ج٤، شماره۲، رمضان المبارک ۱٤٤٧ه ق فبروري ۲۰۲٦م

آیا د پاکستان د پوځي رژیم له وحشته ډک تاریخ څخه خبر یاست؟



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ



ج٤، شماره۲، رمضان المبارک ١٤٤٧هـ ق فبروري ٢٠٢٦م

حدیث نبوی ﷺ

نبي کريم ﷺ فرمايي: له چې د روژې مياشت پيل شي، د جنت دروازې پرانيستل شي، د جهنم دروازې بندې شي او شيطانان په ځنځيرونو وتړل شي. (بخاری)

فهرست

ګرانو لوستونکو!

د خپلو ارزښتناکو وړانديزونو، نظرونو، او فکري او مذهبي ليکنو لپاره په لاندې برېښناليک او ټيليګرام اکاونټ له مونږ سره اړيکه ونيسئ. مننه

https://t.me/mujallah_T

mujallah@proton.me

د ډیورنډ کرښې د دروازو بندېدل او پوځي پروپاګند

په عمومي توګه تاسو هره ورځ په رسنیو کې وینئ چې کله هم د تحریک طالبان پاکستان د مجاهدینو لخوا کومه کاروایي او عملیات ترسره شي، نو پوځي ویاند او د هغه له ملاتړ او د واټساپ له ځانګړي پیغام او لارښود څخه برخمني ټولي ټولنیزې رسنۍ او چاپلوس خبریالان په دې ویلو نه ستړي کېږي چې... "ترهګر له افغانستانه راغلي وو،" "د ترهګرۍ پلان په افغانستان کې جوړ شوی و،" "د ترهګرو پټنځایونه په افغانستان کې دي،" "ترهګر له افغانستان سره په تماس کې وو،" "ترهګر افغان و" او له دې سره ورته نور ډېر همغږي او تمثیلي بیانات ترسره کېږي. نه یوازې دا، بلکې له ملګرو ملتونو څخه نیولې بیا تر د ګاونډیو هېوادونو له چارواکو سره په لیدنو او نړیواله کچه هم همدا بې کاره بیانیه او روایت بیا بیا ځلې تکرارېږي.

اوس چې د ډیورنډ پر کرغېړنه کرښه پرتې ټولې دروازې په ځانګړي توګه د تورخم (پاکستان ګېټ) او د سپین بولدک (باب دوستي) په ګډون د تګ راتګ تقریباً ټولې لارې بندې دي او د پوځ په وینا، ټوله ډیورنډ کرښه په بشپړه توګه د پوځ تر څار او کنټرول لاندې ده، آن تر دې چې په واورین چاپیریال کې هم د مصنوعي ځیرکتیا (اې آی) په مرسته د جوړو شویو ویډیوګانو له لارې د همدې باور د عامېدو سخت کوشش وشو؛ نو په داسې حال کې په تېره (جنوري) میاشت کې شاوخوا ۲۵۰، په ډسمبر کې له ۲۷۰ زیات او په اکتوبر کې شاوخوا ۳۵۰ بریدونه له کوم ځایه او څنګه وشول؟ که تاسو دا وایاست چې پورته ذکر شوي دعوې یوازې د تحریک طالبان پاکستان پر عمر میډیا شوې دي، نو له دې شمېرو پرته هم آزادانه او بې پرې پلټنه کېدای شي چې آیا په پاکستان کې تحریک طالبان پاکستان فعال پاتې شوی که نه؟ او په دې موده کې له سلو او یونیم سلو څخه زیات بریدونه خو داسې هم شوي چې ځایي رسنیو او یا هم خپله پوځ او پولیسو منلي او پخلې یې کړې دی.

آیا اوس هم پر تحریک طالبان پاکستان د پوځي ادارو دا لګول شوی تور سم دی؟ آیا له دې پرته د پوځ نور تورونه هم پر حقیقت ولاړ بلل کېدای شي؟ که هو، نو څنګه؟ او که نه، نو آیا ستاسو

دنده او مسؤیت نه دی چې د دې پوځ دروغجنه بیانیه او ناسم روایت په بشپړه توګه رد او د حق ملګرتیا وکړئ؟ له دې مخکې هم د پوځ دا دعوه په مستند ډول بار بار رد شوې ده، خو په دې ځانګړې موقع کې لوستونکو ته دا باور ورکول مقصود و چې پوځ په همدې ډول ولس تېر باسي، او کله چې یې یو دروغ رسوا شي، نو سمدستي د راتلونکې بلې دروغجنې بیانیې چمتووالی پیلوي. لهذا ولس باید په پوره بیدارۍ، ایماني فریضې او شجاعت سره د پوځي بیاناتو او د هغوی په حق کې چلېدونکي چېنلونه رد او د حق ملګري شي او په ګران هېواد کې د خپرو شویو فسادونو د پای ته رسولو لپاره د تحریک طالبان پاکستان هراړخیز ملاتړ او همکاري وکړي تر څو په دې هیواد کې هغه سپېڅلی او مبارک نظام نافذ شي د کوم لپاره چې دا هېواد له هندوستان څخه بېل کړای شو او د کوم لپاره چې په میلیونونو خلکو مختلف ډول مصیبتونه او سختۍ وزغملې او عظیمې قربانۍ یې ورکړې او هغه هدف "لا اله الا الله" دی.

پاتې: له اسلامي احکامو سره د پنجاب...

او لکه د دین توهین چې کوئ؛ دا هېڅ پرمختګ او بریالیتوب نه دی. که ځان مو ونه وساتئ، دا ټول به مو په ګرېوان کې در پرېوځي، او بیا به له خپل ځان پرته له بل چا څخه شکایت ونه کړئ. په همدې ډول، د پنجاب خلکو ته په کار ده چې له دې ازمویل شویو، داغداره ماضي لرونکو کسانو لېرې پاتې شي، له دوی سره اړیکې پرې کړي او خپلو نسلونو ته دا باور ورکړي چې دې خلکو د واکمنۍ جامې اغوستي، له خپلو اصلي اهدافو ډېر لیرې دي، او یوازې د خپلو جېبونو د ډکولو لپاره کار کوي. که اوس عقل په کار وانه چوئ، نو بیا به د بیرته راستنېدو لپاره کلونه، لسیزې نه، بلکې پېړیو ته اړتیا وي.

لیکوال: مولانا خالد قریشي

له اسلامي احکامو سره د پنجاب د وزیراعلی ښکاره دښمني

له دې څخه هېڅکله او په هېڅ ډول سترګې نه شي پټېدای چې د پاکستان موجوده نظام اسلامي نه دی، بلکې یو تش په نامه ډیموکراتیک (جمهوري) نظام دی. هر ځل د انتخاباتو پایلې د درغلیو، رایو غلا، واک غلا، چور او رشوت په اړه د ګڼ شمېر متنازعه بیانونو، تقریرونو، تبصرو او دعوو سره مل وي، چې هر پاکستاني یې په خپله تجربه او مشاهده کړې ده. د ټاکنو له پای ته رسېدو وروسته، په مرکز او صوبو کې د اسټبلیشمېنټ د خوښې ګوندونه په واک کې راځي، کوم چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د اسلامي احکامو پر خلاف د سیاست کولو، له پوخ سره د بې قید او شرطه د وفادارۍ او همداراز د خپلو جېبونو د ډکولو لوړه او عهد ترسره کوي.

په تېرو ټاکنو کې هم همداسې وشول، او د تحریک انصاف او اسټبلیشمېنټ ترمنځ د روان کړکېچ له امله، یو ځل بیا د پنجاب حکومت مسلم لیګ (ن) ته وسپارل شو، چېرې مریم نواز د وزیراعلی په توګه وټاکل شوه. داسې ښکاري چې مریم نواز په دې دور کې د "ترقۍ او غریب" له پخوانیو شعارونو څخه انحراف کړی او د اسلامي احکامو سره په ټکر کې خپله بقا او سیاستویني.

په دې لړ کې، په دې وروستیو کې د کم عمرۍ د واده په نوم یو بل (فرمان) تصویب شو، که څه هم دا موضوع د ملي اسمبلۍ په صلاحیت کې وه، خو د پنجاب وزیراعلی د پلې کولو په برخه کې نوښت او لومړیتوب ښکاره کړ. د دې قانون له مخې، له ۱۸ کلونو کم عمر لرونکې انجلۍ یا هلک به واده نشي کولای، چې دا په اصل کې د اسلامي احکامو خلاف عمل دی. په دې اړه د هېواد په کچه د ټولو مذهبونو او مکتبونو علماوو د "اتحاد امت پاکستان" په کنفرانس کې تفصیلي خبرې او ویناوې وکړې.

په دې اړه د یو خپور شوي خبر له مخې، د کم عمرۍ واده یو غیرقانوني جرم بلل شوی دی. د قانون سرغړونکو ته تر اوو کلونو پورې بند او تر لس لکو روپیو پورې جریمه کېدای شي. د پنجاب د ماشومانو د واده د مخنیوي آرډیننس ۲۰۲٦ په ټوله صوبه کې نافذ شو، چې ورسره د ماشومانو واده د مخنیوي آرډیننس ۱۹۲۹ ځای ناستی شو،

کوم چې د نارینه وو لپاره د واده لږترلږه عمر ۱۸ کاله او د ښځو لپاره ۱٦ کاله ټاکلی و.
پر دې سربېره، په پنجاب او په ځانګړې توګه په لاهور کې سږ کال بسنت (جشن) هم ولمانځل شو. دا عمل نه یوازې د اسلامي ایډیالوژۍ او ارزښتونو پر خلاف و، بلکې د انساني ژوند ضایع کېدو ته یې هم پام ونه کړ. د دې مراسمو پلي کول د وزیراعلی غیرقانوني زړورتیا څرګندونه کوي. که څه هم د هېواد د نورو سیاسي ګوندونو سخت مخالفت او د علماوو څرګندونې مخې ته راغلې، آغلې پرې هېڅ پام ونه کړ.
په دې په اړه د هېواد د لویې دارالافتاء جامعه علوم الاسلامیه بنوري ټاون (نیو ټاون) فتوا دا ده:
"پتنګ بازي د پیسو او وخت ضایع کول دي او په بېلابېلو موقعو کې د ډېرو انساني ژوندونو د تلف کېدو پېښې هم شوې دي. همدارنګه بسنت یو هندو دود دی، نو له همدې امله پتنګ بازي یا بسنت لمانځل او پتنګ نیول جواز نه لري."
(د فتوا شمېره: ۱۴۳۱۰۰۱۲۰۰٦۵۸، دارالافتاء: جامعه علوم اسلامیه علامه محمد یوسف بنوري ټاون، کراچۍ)
په پنجاب کې د پولیسو تر څارنې لاندې د سي سي ډي (CCD) اداره هم تاسیس شوه، چې د جرمونو د مخنیوي په نوم یې خپله د جرمونو ریکارډونه مات کړل. د ماشومانو سره د جنسي تېري، غلا، ډاکو او نورو سړکني جرمونو په وړاندې خپاره شوي قوانین یوازې ظاهري عمل وو او د وزیراعلی د اهدافو لپاره جوړ شوي وو. په دې جریان کې یوازې بې وزله کسان د قانون د منګولو لاندې راغلل، او سزا یې هم غیر اسلامي او غیر انساني وه.
همدارنګه، د ۲۰۲۵م کال په اوږدو کې یوازې په لاهور کې په هوټلونو کې د ۸ اربه او ٦۰ کروړه روپیو په ارزښت شراب پلورل شوي، چې په ظاهره د جواز لاندې و. د ټرانسجینډر قانون پلي کول، د پاکستان تحریک لبیک د کارکوونکو پر وړاندې ظالمانه کریک ډاون، د سلګونو کارکوونکو وژنه، د فحاشۍ او بې حیایۍ پراخول، د موسیقۍ نندارې او د لویدیځ کلتور ته وده ورکول، ټول د دې وزیراعلی په غاړه کې پراته دي.
په داسې حال کې د پنجاب واکمنانو او هلته مسلطې پوځي طبقې ته زموږ پیغام دا دی:
کوم شیان چې تاسو پرمختګ ګڼئ...
کوم لوري ته چې تاسو ملت بوتلل غواړئ...
کوم اهدافو ته چې ستاسو سترګې دي...
کوم قوانین چې تاسو نافذوئ...
(پاتې پر ۲ مخ ...)

د غزې د سولې بورډ په اړه د تحریک طالبان پاکستان د زعیم محترم شیخ ابو منصور عاصم مفتي نورولي محسود حفظه الله پیغام سره د پنجاب د وزیراعلی ښکاره دښمني

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم، أما بعد، فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم

یٰاَیُّهَا الَّذِینَ اٰمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الیَهُودَ وَالنَّصٰرٰی اَولِیَآءَ بَعضُهُم اَولِیَآءُ بَعضٍ وَمَن یَّتَوَلَّهُم مِّنکُم فَاِنَّهٗ مِنهُم اِنَّ اللّٰهَ لَا یَهدِی القَومَ الظّٰلِمِینَ (المائدة ۵۱)

نن زه غواړم له خپلو ګرانو هېوادوالو، د پاکستان له خلکو سره څو خبرې شریکې کړم. له الله تعالی څخه دعا کوم چې ماته د دغو خبرو د ویلو توفیق راکړي چې زما لپاره صدقه جاریه وګرځي او د پاکستان د ټولو خلکو د بیدارۍ او د مسئولیت د احساس سبب شي، او زما دا پیغام تاسو ته په داسې حال کې ورسېږي چې تاسو د ایمان سره سره د عافیت او نېکمرغۍ ژوند ولرئ.

ګرانو هېوادوالو! نن چې زه کومې خبرې کول غواړم، دا یوازې احساساتي او سرسري خبرې نه دي، بلکې داسې حقایق او واقعیتونه دي چې پرې خبرېدل او د شریعت له نظره پرې غور کول د هر پاکستاني مسلمان لپاره اړین دي.

لومړۍ خبره: دا خبره به ستاسو په علم کې وي چې کله انګرېز په دې سیمه کې له خپلو روزل شویو او وفادارو پوځونو څخه پوره ډاډه شو، او یقین یې وشو چې نور په برصغیر کې د پاتې کېدو اړتیا نشته، او دلته د استعماري قوتونو د موخو د ساتنې لپاره کافي اندازه خلک شته، نو اشغالګر استعمار د راتلونکي له وېرې د برصغیر مسلمانان ټوټه ټوټه کړل او درې برخې یې کړل: یوه برخه په هندوستان کې بنده پاتې شوه، بله برخه په ختیځ پاکستان کې لاس په سر، او درېیمه برخه په لوېدیځ پاکستان کې مجبوره او محکومه وګرځول شوه. لکه څنګه چې د برصغیر خاوره په دوو برخو ووېشل شوه، همداسې رائل اینډین آرمي (شاهي هندي پوځ) هم په دوو برخو تقسیم شوه.

د پاکستان له جوړېدو وروسته، کله چې د برټش اینډین آرمي شتمنۍ، خواک او وسلې ووېشل شوې، نو د اوړدې مودې لپاره د پوځ قومانده د

انګرېز افسرانو په لاس کې وه، او د هغوی اطاعت بې له چون چرا لازمي ګرځول شوی و. د نوي پاکستان لپاره کوم نوی پوځ جوړ نشو چې روزنه یې پر اسلامي اصولو ولاړه او هدف یې د اسلامي ارزښتونو ساتنه وي، بلکې روزنه یې داسې وشوه چې که دا ټوټه ټوټه شوي مسلمانان کله د اسلامي ارزښتونو او خپلواکۍ خبره وکړي، نو په اسانه تر پښو لاندې کړل شي. دا دنده چې انګرېز ورته سپارلې وه، پاکستاني پوځ یې تر ننه پورې په ښه ډول ترسره کوي.

نن هم د امنیتي ادارو تعلیم، روزنه او حتی د دفن چارې د شریعت پرځای د استعماري قوتونو د ښودل شویو طریقو مطابق رواني دي، او له سامراجي قوتونو سره ګډې بحري او ځمکنې پوځي مشقونه او تمرینات د همدې تسلسل برخه ده.

دوهمه خبره: د برصغیر د وېش پر مهال دا نعره په ډېر زور او شور سره پورته شوه چې ”پاکستان کا مطلب کیا؟ لا إله إلا الله“ د همدې ستر هدف لپاره د برصغیر مسلمانانو هر څه قربان کړل.

د امیرِ شریعت سید عطاء الله شاه بخاري رحمه الله په وینا، د دې ستر هدف لپاره یو کروړ خلکو هجرتونه وکړل، لس لکه خلکو خپل سرونه قربان کړل، او د یو لک پټمنو ښځو بې عزتي وشوه.

خو په ډېر افسوس سره باید وویل شي چې د ۷۸ کلونو په تېرېدو سره هم، یو ورځ هم د «لا إله إلا الله» هدف پوره نه شو. تر دې چې د آزادۍ په تحریک کې مهم رول لرونکو سترو علماوو لکه مولانا ظفر احمد عثمانيؒ، مولانا شبیر احمد عثمانيؒ او مولانا احتشام الحق تهانويؒ د پاکستاني جنرالانو او حکمرانانو د اسلام ضد چلند په لیدو سخت افسوس څرګند کړی و، چې د دې هېواد د جوړېدو مقصد څه و، او اوس ترې څه جوړ شوي دي؟ دا خبرې د هغوی په خطبو کې په ښکاره ډول موجودې دي.

درېیمه خبره: زه غواړم د پاکستان د ۷۸ کلن تاریخ په رڼا کې د رائل انډیین آرمي (شاهي هندي پوځ) هغه کردار ستاسو مخې ته کېږدم چې له اسلام سره د دښمنۍ پر بنسټ ولاړ دی، تر څو د پاکستان خلک ښه پوه شي چې آیا دا پوځ د اسلام او مسلمانانو ساتونکی دی که د مسلمانانو قاتل او دښمن؟

آیا دا د حرمین شریفین او بیت المقدس وفادار دی که خائن؟

د ۱۹۴۷م د اګست په ۱۵مه، یعنې د آزادۍ په سبا ورځ، دې پوځ د انګرېزي استعمار د وفادارۍ د ثبوت لپاره د دې سیمې ستر جهادي مشر او د انګرېز باغي حاجي میرزالي خان (ایپي فقیر)

جرگه په غدر سره بمباري کړه. جنرال ضیاء الحق په ۱۹۷۰م کال کې د استعماري قوتونو د آلې او لاسپوځي په توګه لس زره فلسطیني مسلمانان شهیدان کړل، چې دا ورځ تر ننه د «بلیک سیپټمبر» په نوم یادېږي، سره له دې چې په پاکستان کې د هغه ډېره ستاینه کېږي. زموږ مشرانو ته به دا هم په یاد وي چې په عراق کې د مظلومو مسلمانانو د ځپلو لپاره پاکستاني جنرالانو خپلې مرستې او خدمات وړاندې کړي وو.

همدارنګه، په ختیځ پاکستان کې د جنرال نیازي تاریخ هم پټ نه دی، کله چې بنګالي مسلمانانو د خپلواکۍ خبره وکړه، نو رائل اېنډېین آرمي ۲۵ لکه بنګالي مسلمانان ووژل، او له بده مرغه دوه لکه پاکدامنه مسلمانې ښځې یې د دې پوځ لخوا بې عزته شوې.

د پاکستاني پوځ د تور تاریخ د پوهېدو لپاره ډېر شاته تګ ته اړتیا نشته، بلکې نېږدې ماضي کې پرویز مشرف او نور جنرالان د نړۍ د یوازینۍ اسلامي حکومت «د افغانستان اسلامي امارت» پر ضد شل کاله د چا د صف مخکښ ملګري وو؟ د میلیونونو افغان مسلمانانو د وژلو او بې کوره کېدو مسئول څوک دی؟ او تر ننه پورې د افغانستان د اسلامي امارت د پرمختګ خنډ څوک دی؟

ګرانو مسلمانانو ورونو! په دې خړ یونیفورم (پوځي درېشۍ) کې پټ هېڅ یو جنرال د وطن او مسلمانانو خیرخواه نه دی، بلکې دا پوځ نسل په نسل د استعماري قوتونو د ګټو ساتونکی پاتې شوی دی.

اوس خو یو عام پاکستانی هم له دې حقیقت څخه ناخبره نه دی پاتې شوی چې د پاکستاني جنرالانو ټاکنې څوک کوي؟ هغوی ته لارښوونې له کومه ځایه راځي او ډالر له کوم لوري ورکول کېږي؟ د مظلومو قبایلو شتمنۍ او معدني زېرمې لوټل کېږي او د چا لمنې ته اچول کېږي؟ او کله چې دا کسان تقاعد ته رسېږي، نو پر کوم لور مخه کوي؟

ګرانو هېوادوالو! د خپلو تورو تېرو تاریخونو لړۍ ته په دوام ورکولو سره، دا مهال د پاکستان د پوځ مشر او ګوډاګی وزیر اعظم څنګه په زړورتیا سره د تش په نامه «د غزې سولې بورډ» کې د رسمي ګډون اعلان وکړ، نو باید دا ښه درک کړو چې دا یو عادي او سطحي تصمیم نه دی، بلکې دا له ضیاء الحق او پرویز مشرف د ټولو پخوانیو کړنو نه هم یو ګام وړاندې، ښکاره اسلام‌دښمنه پرېکړه ده.

د دې پرېکړې ریښتینې ماهیت د پاکستان ولس په ښه ډول له هغه وحشیانه او ظالمانه چلند څخه درک کولای شي چې اجیرو امنیتي او پوځي

ادارو د تحریک لبیک پاکستان له مشرانو او فعالانو سره وکړ. د «بورډ آف پیس» پر ضد د غبرګ پورته کوونکو سلګونو ځوانانو ته په څو ساعتونو کې څه ډول بې‌رحمانه سزاوې ورکړل شوې، د «لبیک لبیک» نارې وهونکو جسدونه د ټانکونو لاندې شول، د رسول الله ﷺ د عاشقانو سپېڅلي جسدونه چټلو نالیو ته وغورځول شول، او زرګونه نور فعالان لا هم د تورو تمبو شاته سخت ژوند تېروي.

زما مظلومو مسلمانانو ورونو! دا خبره د ژور فکر وړ ده چې پر پاکستان مسلط جنرالانو څو څو ځله د جګړه‌مارو کفارو تر څنګ داسې ګامونه پورته کړي چې له امله یې د پاکستان پر خلکو بیا بیا جهاد فرض شوی دی. د فقهي نصوصو په رڼا کې دا یو روښانه او څرګند مسئله ده. بلکې د فقهې څلور واړه مذهبونه (حنفي، شافعي، حنبلي، مالکي)، آن سلفي او جعفري فقهه هم پر دې متفق دي چې که یو مسلمان (که هغه فرد وي، جماعت وي یا د حکومت په بڼه) د حربي کفارو په صف کې د مسلمانانو پر ضد ودرېږي، نو د هغه پر ضد جهاد او قتال هماغسې فرض ګرځي لکه د اصلي حربي کافر پر ضد. دا ډول مسلمان مباح‌الدم ګڼل کېږي، د هغه مرګ حرام مرګ بلل کېږي، په دې صف کې یې معاش حرام دی، د هغه د مال او جنازې حکم د باغیانو، قطاع الطریق او غلو په څېر دی، او دا ډول خلک پر مسلمانانو د واکمنۍ هېڅ حق نه لري.

د دې مسئلې بشپړ او مفصل وضاحت د "وانا آپریشن" په اړه په ورکړل شوي فتوا کې شوی، چې پرې د پاکستان له پنځه سوه څخه زیاتو سترو جیدو علماوو، د معتبرو دیني ادارو لویو مفتیانو او مشهورو مشایخو لکه شهید مفتي نظام الدین شامزي، شیخ الحدیث ډاکټر شیر علي شاه، شیخ الحدیث مولانا عبدالرزاق اسکندر، پیر سید مختارالدین شاه او نورو (رحمهم الله) خپل لاسلیکونه کړي دي.

خو بیا هم، د دې موضوع په اړه زه غواړم د احنافو فقهاوو له معتبرو کتابونو څخه څو څرګند اقوال وړاندې کړم، او پاتې څېړنه د علماوو او د دیني مدرسو د طلبه‌وو پر غاړه پرېږدم. له همدې امله زموږ له سترو فقهاوو څخه امام سرخسي رحمه الله په شرح سیر کبیر کې فرمایي:

لِأَنَّ مُبَاشَرَةَ الْقِتَالِ فِيْ مَنَعَةِ الْمُشْرِكِيْنَ (أَيْ عَسْكَرِهِمْ وَجَمَاعَتِهِمْ) مُبِيْحٌ لِّدَمِهِمْ، وَإِنْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ

همدا راز په البنایة شرح الهدایة کې د کفارو په صف کې شامل د یو مسلمان د وژنې د جواز

ورکولو وروسته لیکل شوي:

هَذَا حَالُ مَنْ كَثَّرَ سَوَادَهُمْ وَلَمْ يَتَزَيَّ بِزِيِّهِمْ، وَلَمْ يَتَخَلَّقْ بِأَخْلَاقِهِمْ، فَكَيْفَ حَالُ الْمُتَزَيَّا بِزِيِّهِمْ وَالْمُتَخَلِّقِ بِأَخْلَاقِهِمْ فِيْ زَمَانِنَا؟!

همدارنګه د افغانستان مفتي اعظم مولانا عبدالعلي دیوبندي رحمه الله د علامه طرابلسي رحمه الله له قوله دا خبره را نقل کړې چې کوم مسلمان د کفارو په صف کې ور ګډ شي، نو د هغه تاوان او ضرر د اصلي کافر له ضرر څخه هم ډېر سخت او شدید وي. له همدې امله علامه طرابلسي رحمه الله په فتاویٰ کامليه کې فرمايي:

إِنَّهُمْ كَانُوْا عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ أَشَدُّ ضَرَرًا مِّنَ الْكَافِرِيْنَ.

د مسلمانانو پر ضد د کفارو آله (لاسپوڅی) ګرځېدلی مسلمان د حربي کافر په پرتله ډېر سخت او تر ټولو زيات زيان رسوونکی وي. همدارنګه د افغانستان مفتي اعظم مولانا عبدالعلي دیوبندي رحمه الله په خپله مشهوره فتاوا «مختصر احکام القتال» کې فرمايي، چې هغه مسلمان چې د حربي کفارو په صف کې ورګډ شي، که هغه په دارالحرب کې وي او که په دارالاسلام کې، په دواړو حالاتو کې يې حکم د باغيانو په څېر دی، او هغه مباح‌الدم ګڼل کېږي. هغه فرمايي:

وَلَا فَرْقَ بَيْنَ دَارِ الْحَرْبِ وَدَارِ الْإِسْلَامِ فِيْ إِبَاحَةِ قَتْلِ الْمُسْلِمِ الَّذِيْ كَانَ وَاقِفًا فِيْ صَفِّ الْمُشْرِكِيْنَ، سَوَاءً كَانَ عَنْ طَوْعٍ أَوْ عَنْ إِكْرَاهٍ، إِذَا قَاتَلَ الْمُسْلِمِيْنَ.

او د همدې مسئلې په اړه مرحوم مولانا عبدالعلي رحمه الله بيا د فقهاوو له لوري اووه څرګند فقهي نصوص را نقل کړي دي. (مختصر احکام القتال، ص: ۱۱)

د دغو فقهي نصوصو په رڼا کې که د پاکستاني پوځ تاریخ ته وکتل شي نو دا دعوه پر ځای بلل کېدای شي چې د پاکستان پر مسلمانانو څو لسيزې وړاندې د رائل انډېين آرمي پر ضد جهاد فرض ګرځېدلی و. خو د پروېز مشرف او عاصم منير له کړنو وروسته، اوس په دې فرضيت کې څه شک پاتې کېږي؟ له همدې امله، د دې سترې فريضې د ادا کولو او د دغه پور د ادا کولو لپاره د تحريک طالبان پاکستان ملاتړ د وخت مهمه اړتيا ده.

په پای کې دا خبره هم روښانه کوم چې کوم آيت مې چې تلاوت کړی، د هغه څرګند مفهوم دا دی چې کله يو مسلمان د حربي کفارو په صف کې شامل شي، نو د هغه حکم هم د هماغو په څېر ګرځي. که دا ګډون يوازې د دنياوي موخو لپاره وي، نو د هغه تکفير نه شي کېدای، خو پر ضد يې قتال فرض ګرځي. او که څوک د عقيدې له

مخې د کفارو په صف کې شامل شي، نو بيا د تکفير د اصولو په رعايت سره د هغه تکفير کېدای شي. خو په دواړو حالاتو کې، د هغوی پر ضد د قتال په فرضيت کې د امت د علماوو ترمنځ هېڅ اختلاف نشته دی.

د تحريک طالبان پاکستان پر ضد دا پروپيګنډه کېږي چې ګواکې دوی د موالاتو (دوستۍ) په مسئله کې د مسلمانانو تکفير کوي، دا خبره په بشپړ ډول ناسمه ده. ځکه مونږ د مطلق موالاتو پر بنسټ د تکفير قايل نه يو، بلکې په دې مسئله کې زمونږ د دارالافتاء تفصيلي فتویٰ موجوده ده، چې د اهل سنت والجماعت د معتدل مزاج او د هغوی د اصولو مطابق ده.

وما علينا إلا البلاغ المبين

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

پاتې: له اسلام آباد تر تل ابيبه...

چې د پاکستاني پوځ لېږد، امنيتي همغږي او سياسي فشارونه د همدې ستراتېژۍ بنسټيز عناصر دي، دا پوځ د امت د دفاع لپاره نه، بلکې د نړيوالو قدرتونو د ګټو د خوندي کولو لپاره کارول کېږي او پايله يې دا ده چې د غزې مقاومت منزوي او بې وسه کړل شي.

د دې سناريو د عملي کېدلو لپاره مستقيمه امريکايي مداخله نه غواړي، بلکې د اجيرو او واسطو له لارې ترسره کېږي، پاکستان، چې له اوږدې مودې راهيسې د امريکا له امنيتي بلاک سره تړلی پاتې شوی، د دې پروژې لپاره يو مناسب تطبيقي وسيله ګرځېدلې ده، پاکستان د خپل سياسي تصميم او اجير پوځ له لارې، د امريکا د غوښتنو عملي کوونکی رول لوبوي او د يوې مرموزې طرحې بار پر اوږو وړي.

لیکوال: عبداللّٰه "محمد"

د الله تعالی محبت

هر انسان په فطري ډول د محبت احساس لري. د انسان په طبیعت کې د مینې تخم کرل شوی او له همدې سره الله تعالی هغه ته د فکر نعمت هم ورښنلی، تر څو د ژوند د چارو تر څنګ د محبت انتخاب هم په سالمه او سمه توګه وکړي، او داسې ذات وټاکي چې د دنیا او آخرت نېکمرغي يې په نصیب شي. خو کله چې انسان نړۍ ته راځي او په کوم فکر روزل کېږي، هماغه فکر يې دین ګرځي. انسان خپل فکر حق ګڼي او له هغه پرته نور افکار ورته باطل ښکاري. بیا همدغه فکر ته د يو لاروي په توګه ځان سپاري. که د مسلمان اولاد د اسلام په سپېڅلي دین مشرف شي، نو د هغه محبت او انتخاب باید د خپل دین له شعایرو سره تړلی وي. خو محبت دلته هم ځانګړتیا غواړي. محبت تل ځانګړی وي. هېڅ انسان داسې فطرت نه لري چې له ټولو سره د زړه له کومې يو شان مینه ولري. نو انسان باید خپل محبت په ډېر فکر او شعور سره له يوه ذات سره ځانګړی کړي، او له هماغه ذات څخه د متقابل محبت هیله ولري، ځکه ریښتینې مینه له دواړو خواوو رامنځته کېږي.

زما په آند، د چا په زړه کې چې د الله تعالی محبت ځای نیولی وي، هماغه انسان د الله تعالی د مینې ور ګرځېدلی وي. ځکه مؤمن مسلمان په دې عقیده دی چې د الله تعالی له ارادې پرته هېڅ شی نه کېږي. که الله تعالی له يوه انسان سره مینه نه لرلای، نو د هغه په زړه کې به د الله تعالی محبت څنګه راټوکېدلی وای؟ نو هر مؤمن مسلمان ته پکار ده چې له الله تعالی څخه د خپل محبت غوښتنه په زاریو، دعاوو او عاجزۍ سره وکړي، او دا درک ولري چې د الله تعالی محبت ترلاسه کول د انسان کمال نه، بلکې د الله تعالی ځانګړی احسان دی. خو انسان باید دا هم په پام کې ولري، چې که د الله تعالی محبت خپلوي، نو هر ډول قربانۍ ته باید چمتو وي. د الله تعالی په مینه کې ځان هغه ته رسول، او د هغه وصال ته رسېدل، ستر زحمتونه او سختې ازمویني غواړي. په دې لاره کې بېلابېلې ستونزې او ابتلاءګانې راځي. د بندګانو له محبت څخه ځان ساتل، د هغوی پر خبرو او طعنونو صبر کول، او دا هر څه الله تعالی ته سپارل، د همدې لارې غوښتنې دي.

انسان باید داسې ځان وښيي، لکه د الله تعالی له وصال پرته چې هېڅ نه لري، او همېشه د هغه د رضا او قرب د لارو په لټه کې سرگردان وي. همدا د محبت په دنیا کې د هجران او بېلتون شېبې دي.

پوهان وايي: په مينه کې بېلتون هم خوند لري. د بېلتون، هجران او د خزان په همدې غمجنو شېبو کې باید له صبر او استقامت څخه کار واخيستل شي. بې‌صبري مه کوه، ځکه همدا د مينې ازموينه ده. همدلته د عاشق او معشوق د مينې کچه معلومېږي. همدلته گټل او بايلل سره بېلېږي.

دا مرحله له یوې خوا د روحانيت، لذت او نوراني کيفيتونو نه ډکه وي، خو له بلې خوا د انسان پر نازک زړه د غمونو او دردونو توپانونه راولاړېږي.

تر ټولو دردناکه شېبه هغه ده چې انسان د خپل يار د بېلتون په غم کې ژوند کوي، او نور خلک يې په همدې مينه کې پېغوروي. دا د ژوند او مرگ ترمنځ معلق اوسېدل دي؛ هلته چې يوازينی درد د محبوب (الله تعالی) بېلتون او د هغه په مينه کې تنهايي ده.

الله تعالی فرمايي: څوک چې ما یاد کړي، هغه به ما وپېژني. څوک چې ما وپېژني، په ما به مين شي. څوک چې په ما مين شي، زه به پرې مين شم. او په چا چې زه مين شم، هغه به په خپل عشق کې مړ کړم. او څوک چې ما په خپل عشق کې مړ کړي، نو د هغه د وينې بدل نشته؛ د هغه بدل زما ديدار دی، او زه به خپل ديدار ورکړم.

علامه رومي رحمه الله فرمايي:

گر کشتۀ خلق را دیت دینار است

بر کشتۀ دوست دیت دیدار است

نو اې مؤمن مسلمان وروره!

همدا ريښتينې مينه ده.

همدا مينه د حقيقت نړۍ لري.

نورې ټولې مينې نيمگړې دي.

دنيا فاني ده، او محبتونه يې هم فاني دي.

نو ولې له داسې چا سره مينه کوې چې د الله تعالی له ريښتينې مينې دې راگرځوي؟

پاڅه! همدا نن کلک هوډ وکړه چې په هر حال کې به د الله تعالی سپېڅلې مينه خپلوې.

لیکوال: خوشحال سواتي

له اسلام آباد تر تل ابیبه، د غزې د تسلیمۍ مرموزه طرحه!

غزې ته د پاکستاني پوځیانو لېږد به یو ځل بیا د ۱۹۷۰م کال د سپتمبر هغه توره او خونړۍ کیسه د وینو په رنګ تازه کړي، چې د اردني پاچا حسین په امر، د پاکستاني قراردادیانو او جنګي الوتکو په وسیله یې تر شلو زرو زیات بې ګناه فلسطینیان په فاسفورس بمونو لولپه او په شهادت ورسول، چې د ننۍ ستراتېژۍ عملي اړخ به یو ځل بیا د تېر تاریخ هماغه صحنه تازه او تکرار کړي.

د سپتمبر خونړۍ پېښه لا د مظلومو فلسطینیانو له حافظې نه ده وتلې، چې یو ځل بیا د پاکستاني رژیم نوم د داسې سناریو سره تړل کېږي، چې د بې ګناه فلسطینیانو د بې وسلې کولو او وژلو قرارداد یې پر خپله غاړه اخیستی دی او دا تکرار د تصادف په توګه نه، بلکې د یوې دوامدارې تګلارې په تسلسل کې مطرح کېږي.

دا په نړیواله کچه مشهوره خبره ده، چې د پاکستان کرایي او اجرائتي پوځ د ظلم او وحشت په چارو کې ځانګړې شهرت لري، د یادونې وړ ده، چې حتی د امریکا له بدنامو بلک‌واټر قراردادیانو څخه هم د رېږونو او وژنو په برخه کې د زیاتې تجربې او شهرت شالید لري، هغه شهرت چې د بشري ارزښتونو او اسلامي مقداساتو د له مینځه وړلو پر معیار ولاړ دی.

له کومه وخته چې د ټرمپ لخوا په افغانستان کې ورکړل شوې امریکایي پروژه له ناکامۍ سره مخ شوه، نو د باور د بیا ترلاسه کولو او د خپلې غلامۍ د اثبات لپاره یې د مظلومو فلسطینیانو د بې وسلې کېدو پروژه د بدیل په توګه مخې ته کېښودل شوه، تر څو د افغانستان ناکامي په فلسطین کې جبران کړي.

پاکستانی رژیم په اسلامي نړۍ کې لومړنی هغه هېواد وګرځېد چې د اسلامي نهضت پولې یې کراس کړې د مسلمانانو د لومړۍ قبلې د مدافعینو پر ضد ودرېد او د اسرائیلي تېري ګرو د ګټو عملي ملاتړ یې وکړ.

پاکستان د فلسطین په قضیه کې یوازې یو دیپلوماتیک شریک نه بلکې د یهودي اشغال د مستقیم ملاتړ یوه فعاله برخه ده،

(پاتې پر ۱۰ مخ...)

لیکوال: نور الهداء خلیل

له راجه‌يي الحاقه تر پوځي قبضې؛ د برصغير شخړې

د برصغير سياسي تاريخ يوازې د جغرافيايي وېش او ناخاپي شخړو کيسه نه ده؛ بلکې دا د واک د انتقال، استعماري تګلارو او د ولس له ارادې څخه د پرله‌پسې سرغړونو اوږد او دردناک تسلسل دی. د دې تسلسل په مرکز کې هغه راجه‌يي نظام ولاړ و چې له زور، امتياز او استبداد څخه جوړ شوی و؛ داسې نظام چې انګرېزي استعمار نه يوازې وزغمه، بلکې د خپلې واکمنۍ د پياوړتيا لپاره يې ورڅخه فعاله ګټه هم واخيسته.

راجه‌ګانو د انګرېزانو په ملاتړ خپل ولسونه محکوم ساتل، او وروسته همدا راجه‌يي جوړښتونه د انګرېزي ښکېلاک له لوري د نويو دولتونو په چوکاټ کې، خو دا ځل د پوځ او زور په بنه، بيا راژوندي کړل شول. د همدې تاريخي تکرار پايله ده چې د برصغير ډېرى شخړې تر ننه هم نه دي هوارې شوې.

د اتلسمې او نولسمې پېړۍ پر مهال د انګرېزانو ستراتيژي دا وه چې د Divide and Rule يا «وېش او واک» له تګلارې څخه استفاده وکړي. د همدې تګلارې له مخې شاوخوا شپږ سوه شاهي ايالتونه پرېښودل شول چې د راجه‌ګانو او نوابانو تر واک لاندې پاتې شي. دا واکمنان که څه هم په ظاهره خپلواک وو، خو په عمل کې يې بقا او واک د انګرېزانو له رضايت سره تړلی و.

انګرېزانو د راجه‌ګانو ميراثي واک ځکه وساته چې د ولسي پاڅونونو مخه ونيسي او په ټيټه بيه پراخې سيمې تر کنټرول لاندې وساتي. راجه‌ګان د استعماري نظام سيمه‌ييز مديران وو؛ د مالياتو ټولول، د پاڅونونو ځپل او د سياسي مخالفتونو غلي کول يې اساسي دندې وې. دوی ته دې هيڅ ارزښت نه درلود چې ولس څه غواړي؛ مهمه دا وه چې واکمن وفادار پاتې شي.

د ۱۹۴۷م کال د وېش پر مهال هم ولس له پامه وغورځول شو. د شاهي ايالتونو برخليک د راجه‌ګانو په پرېکړه وتړل شو، نه د خلکو په اراده. دا پخپله د استعماري فکر دوام و، چې واک د ولس نه، بلکې د اشرافو حق بلل کېده. د کشمير، حيدرآباد او جوناګړ پېښې د همدې حقيقت څرګندې بېلګې دي.

په کشمير کې د مسلمان اکثريت پر وړاندې

د هندو راجه هري سينګ واکمنۍ د ښکاره بې‌عدالتۍ انځور وړاندې کړ. د انګرېزانو له وتلو وروسته، راجه د ولس د ارادې پر ځای د خپل شخصي واک د ژغورلو هڅه وکړه. ټولې پرېکړې د خلکو له مشورې پرته وشوې، چې پایله یې سیاسي شخړه وه؛ شخړه چې وروسته د نویو رامنځته شویو دولتونو تر منځ په پوځي ټکر بدله شوه.

د برصغیر شخړې ځکه نه هواریږي چې د حل هڅې یې لا هم د هماغه زاړه منطق تر اغېز لاندې دي. تر هغو چې واک د خلکو له ارادې سرچینه وانخلي، هر ډول الحاق، که شاهي وي او که پوځي؛ هیڅ مشروعیت نه شي لرلای.

د کفارو لخوا په مسلمانانو باندې د پوځي کړیو حاکمول د هغه پلان برخه ده چې غواړي د پاکستان مسلمانان د اجیرو او اجرتي پوځیانو تر کنټرول لاندې غلامان وساتي.

د دې ټولو بدبختیو څخه د وتلو لپاره یوازینۍ لار جهاد فی سبیل الله ده، چې د همدې هدف لپاره تحریک طالبان پاکستان د ناپاک او اجیر پوځ پر وړاندې خپله جهادي مبارزې جاري ساتلې ده، چې دغه مبارزه د مجاهدینو او سپېڅلو ځوانانو په قربانیو مخې ته روانه ده.

له راجه يي الحاقه د خلاصون لار د پاکستاني مسلمانانو لپاره د تحریک طالبان پاکستان صف ته شاملیدل دي چې نتیجه به یې په وطن کې د یو اسلامي نظام حاکمیدل او د راجه ګانو د قبضې څخه د ولس خلاصیدو سبب ګرځي.

له راجه‌يي الحاقه تر پوځي قبضې پورې د برصغیر سیاسي تاریخ یو ګډ ټکی لري: د ولس له ارادې څخه سترګې پټول. دا بهیر لومړی د انګرېزانو له خوا د راجه‌ګانو په وسیله عملي شو، او بیا د نویو حکومتونو په چوکاټ کې د پوځ په بڼه وغځول شو. د دې پر ځای چې دا تګلاره د بحرانونو د حل لاره هواره کړي، د شخړو، وېش او بې‌ثباتۍ د لا ژورېدو سبب ګرځېدلې ده.

پاتې: آیا د پاکستان د پوځي رژیم...

بلوچ وي که پنجابي؛ راځئ په دې روانه پېړۍ کې د یو امیر تر قیادت لاندې، د یو سپین بیرغ لاندې، د ظلم پر ضد خپله مبارزه پیل کړو. او د تحریک طالبان پاکستان سره یو شو او د وخت لوی فرعون صفت پوځ ته غاښ ماتونکی ځواب ورکړو چې اسلامي امت ته زوړ برم بېرته اعاده کړو او د اسلامي نظام تر چتر لاندې یو د امن ژوند ته ادامه ورکړو. وما علینا إلا البلاغ.

ليکوال: روح الله مجاهد

قبايلي سيمې که د پاکستان د وسلو د ازموينې لابراتوار؟

قبايلي سيمې هغه خاوره ده چې په تاريخي لحاظ د آزادۍ، غيرت او خپلواک تصميم نيونې يو روښانه سمبول بلل کېږي؛ خو له بده مرغه، له تېرو نږدې اتو لسيزو راهيسې دا سيمې او دلته مېشت ولسونه د يوه غلام او اجير رياست له لوري تر دوامدار ظلم او جبر لاندې راغلي دي. د پاکستان اجير رياست، چې ځان د خپلواکۍ، قانون او شريعت مدافع بولي، په عملي توګه يې په قبايلي سيمو کې د عدالت، قانون او شريعت ټولې دروازې بندې او تر پښو لاندې ساتلې دي.

که څه هم د پاکستان غلام رياست او اجير پوځي استېبلېشمنټ قبايلي سيمې د خپل قلمرو برخه ګڼي، خو بل طرفته يې بيا ترې ترټولو بنسټيز اسلامي، اخلاقي، بشري او مدني حقونه اخيستي دي. د بېلګې په توګه، په ټوله قبايلي سيمه کې د يوه مجهز او معياري روغتون نشتون، د معياري سړکونو نشتوالی، او د عدالتي نظام بشپړ نه شتون د دې ښکاره ثبوتونه دي. که څه هم د پاکستان په نورو سيمو کې هم عدالت نادره پديده ده، خو په قبايلي سيمو کې خو يې د عدالت جنازه ايستل شوې ده.

دلته هره ورځ پوځي عمليات، د بې‌پيلوټه الوتکو بريدونه، هدفي وژنې، جبري ترې‌تم کول، جبري کډوالۍ، د جوماتونو او مدرسو بمبار، او د عام ولس ځورول دوام لري. دا ټولې هغه خونړۍ تجربې دي چې قبايلي ولس يې په ډېرې ترخې تجربې سره پېژني. قبايلي سيمې د پاکستان د ملي سياست په حاشيه کې نه دي پاتې شوې، بلکې د دې رياست د ناکامو او ظالمانه امنيتي تګلارو د ازموينې ډګر ګرځېدلې دي.

دلته انسانان د «ثانوي زيان» تر نامه لاندې قرباني کړل شول، سيمې د امنيتي اړتياوو په پلمه وسوځول شوې، او دا اور لا هم بل دی. که ريښتيا خبره وکړو، قبايلي سيمې د پاکستان د جګړه‌ييزو نظرياتو او وسلو د ازموينې يو عملي لابراتوار دی. پاکستان خپل نوي جوړ شوي توپونه، د چين او امريکا لخوا ورکړل شوې جنګې چورلکې، او نورې پرمختللې وسلې له جنوبي وزيرستانه تر باجوړه پورې د فاټا په ټوله سيمه کې وکارولې او د جګړې لمبې يې بلې وساتلې.

د پوځ ړوند بمبار یوازې عسکري او نظامي هدفونه نه، بلکې کلي، جوماتونه او عام ولس په نښه کړل. د راپورونو له مخې، د پوځ په مرمیو کې سپین فاسفورس هم کارول شوی، چې اغېزې یې به له کلونو وروسته په نویو زیږېدونکو ماشومانو کې راڅرګندې شي او د معیوبیت او جدي ناروغیو لامل به شي. د ایمنسټي انټرنیشنل د مستندو راپورونو پر بنسټ، د «ضربِ عضب» او «ردالفساد» عملیاتو پر مهال پاکستاني پوځي رژیم په قبایلي سیمو کې د فاسفورس بمونه کارولي، چې د تنفسي ناروغیو او نورو جدي زیانونو سبب ګرځېدلي دي.

که یوازې د شمالي وزیرستان د میرعلي تحصیل وضعیت وڅېړل شي، نو روښانه به شي چې څنګه پاکستاني پوځ دا سیمه په یوه بله غزه بدله کړې ده. لکه څنګه چې اسراییلو په ۲۰۰۸ - ۲۰۰۹ او بیا له ۲۰۲۳ تر ۲۰۲۵ پورې په غزه کې د فاسفورس بمونه وکارول، ورته کړنې د پاکستان اجیر ریاست او پوځ له لوري هم په قبایلي سیمو کې تکرار شوې او لا هم دوام لري.

په قبایلي سیمو کې داسې وسلې هم کارول شوې چې په نړیواله کچه منع اعلان شوې دي؛ لکه اوښکې بهوونکی ګاز، هایدروجن سایانایډ، فوسجین، سارین او مسټرډ ګاز. سربېره پر دې، کله چې پاکستاني پوځ نوي ډرونونه جوړ کړل، د ازموینې لپاره یې د شمالي وزیرستان د میرعلي سیمه وټاکله او پر عام ولس یې بریدونه وکړل. همدارنګه، په تیراه کې د نویو کوچنیو څانمرګو ډرونونو ازموینه قصداً پر ملکي وګړو وشوه، چې له امله یې یو پلار او نږدې شپږ ماشومان ووژل شول.

په پایله کې، په ډاګه ویلی شو چې قبایلي سیمې د پاکستان د اجیر پوځي رژیم د وسلو د ازموینې یو پراخ لابراتوار ګرځېدلی دی؛ داسې لابراتوار چې هر وخت پکې د کورنیو او بهرنیو نوو او زړو وسلو ازموینه د بې ګناه قبایلي ولس په وینو ترسره کېږي. دې ټولو ظلمونو، ناورینونو او تاریخي بې‌عدالتیو د پای ته رسولو یوازینۍ لار دا ده چې قبایلي ولس نور چوپ پاتې نه شي او د خپل برخلیک د ټاکلو لپاره په شعوري، منظم او سیاسي ډول د ملي او اسلامي جذبې په اساس راپاڅي. تر هغو چې قبایلي ولس په واحد غږ او ګډه دریځ سره د خپلو حقونو غوښتنه ونه کړي، د اجیر پوځي اسټبلېشمنټ دا وحشتونه به همداسې دوام ولري. بشپړه خپلواکي، انساني کرامت، د ژوند حق، او د خپلو سیمو د ساتنې واک یوازې هغه وخت ترلاسه کېدای شي چې ولس په ګډه د ظلم پر وړاندې ودرېږي.

تحریک طالبان پاکستان هغه سیاسي، جهادي او ملي اسلامي تحریک او ولسي غبږ او جهادي خوځښت دی چې نن ورځ د قبایلو په شمول د ټولو مظلومو مؤمنو پاکستاني ولسونو د حقونو، خپلواکۍ او عزت دفاع کوي. دا تحریک د پوځي استېبلېشمنټ د جبر، ناانصافیو، غیر شرعي پالیسیو او اشغال پر وړاندې د ولسي مقاومت یو منظم او شعوري چوکاټ وړاندې کوي.

له همدې امله پر هر بااحساسه، غیرتمند او ویښ مؤمن پاکستاني ځوان په ځانګړې توګه قبایلي وګړو لازمه ده چې د تحریک طالبان پاکستان د مجاهدینو هراړخیز ملاتړ او ملتیا وکړي.

نن دا زموږ تاریخي مسؤلیت، ملي وجیبه او اسلامي فریضه جوړېږي چې د خپلو شهیدانو، معیوبینو، بې کوره شوو ماشومانو، قیدیانو او ځپل شوو میندو پوښتنه وکړو. که نن چوپ پاتې شو، سبا به تاریخ موږ د ظالمانو په خاموشه ملګرو کې وشمېري.

راځئ چې د خپل حق، خپلواکۍ او عزت د ترلاسه کولو لپاره د تحریک طالبان پاکستان تر بیرغ لاندې په ګډه د ناپاک پوځ په وړاندې ودرېږو، څو خپل ولس د پوځي استېبلېشمنټ له ظلمونو او دوامدار اشغال څخه وژغورو او راتلونکو نسلونو ته د اسلامي نظام تر سیوري لاندې د امن، وقار او آزاد ژوند لاره هواره کړو.

له ام المؤمنین حضرت عایشې صدیقې (رضي الله عنها) څخه روایت دی چې فرمایي: ''کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اعتکاف (خلوت او عبادت) نیت وکړ، نو لومړی به یې د سهار لمونځ ادا کړ او له هغې وروسته به خپل د اعتکاف ځای ته داخل شو.

(رواه البخاري و مسلم)

ليکوال: عمر منعم آفريدی

آيا د پاکستان د پوځي رژيم له وحشته ډک تاريخ څخه خبر ياست؟

د پاکستان سياسي او ټولنيز تاريخ له لسيزو راهيسې د بې ثباتۍ، د واک د تمرکز او د بنسټيزو بشري حقونو د نقض له ننګونو وحشت او دهشت سره مخ دی. په وروستيو کلونو کې د دې هېواد واکمن رژيم د خپلو مخالفينو، عامو خلکو، مدني فعالانو او د حق غوښتونکو پرګنو په ځپلو کې له داسې تګلارو کار اخيستی چې په کور دننه او نړيواله کچه يې د «ظلم او وحشت» په اړه سختې انديښنې راپارولې دي. له جبري لادرکه کېدنو نيولې، تر هدفي وژنو او د بې ګناه خلکو تر زنداني کولو پورې؛ دا هغه څه دي چې د پوځي ريژيم او ولس ترمنځ يې واټن تر بل هر وخت زيات کړی دی.

په دغه مقاله کې هڅه شوې چې د پاکستان د اوسني نظام هغه کړنې وڅېړل شي چې د قانون تر نوم لاندې پر بې دفاع خلکو، په ځانګړې توګه پر پښتنو، بلوڅو او سياسي منتقدينو باندې د فشار د وسيلې په توګه کارول کېږي.

په کال ۱۹۷۱ کې چې دوی کوم ظلم او وحشت کړی دی، د دوو لاکو باپردې ښځو عزت يې لوټ کړ، چې ځينو خويندو د ډېرې وېرې له امله ځانونه کوهيانو ته وغورځول.

بوډا پلار خپل واړه بچيان د سيند بې‌رحمه څپو ته وسپارل او په سيند کې يې لاهو کړل، تر څو د دې ظالم پوځ نه په امن شي. دا خبره هر چاته عيان ده چې دا د پخوانيو ظلمونو يوه بېلګه ده.

په ۱۹۷۱ کې محمودالرحمن کمېشن (چې د پاکستان يو عدالتي کمېشن دی) يو راپور وړاندې کړی و، چې په هغه کې نااشنا ظلمونه رانغښتل شوي وو، چې د اختصار له امله ترې مو ړ يوازې څو نمونې د مثال په توګه ذکر کوو.

۳ مارچ ۱۹۷۱، په ډهاکه کې په يو احتجاجي جلسه کې پوځ فايرنګ پيل کړ، چې په زرګونو خلک يې ووژل. په همدې راپور کې ويل شوي دي چې د ۲۵ مارچ ۱۹۷۱ د نيمې شپې په ډهاکه کې پوځ فايرنګ پيل کړ، چې له امله يې ۵۰ زره خلک ووژل شول.

د بنګله‌دېش د حکومت د دعوې مطابق، په ۱۹۷۱ کې ۳۰ لکه کسان وژل شوي دي. يوازې دا نه، بلکې د GHQ (چې دا د يو هېواد د پوځ او دفاع لويه قومندانی ده) د دعوې مطابق پوځ ۲۶ زره

بنګالیان وژلي دي. نو خپله سوچ وکړئ، چې یو پوځ چې د ۲۶ زره خلکو د وژلو ذمه‌واري اخلي، هغه به په حقیقت کې د څومره خلکو قاتل وي، او دا به څومره فرعوني‌خویه پوځ وي. دا هغه پوځ دی چې په لاکونو بنګالیان یې وژلي دي او په زرګونو تورسرو عزتونه یې لوټ کړي دي.
د نیشنل پارټۍ میا حسین د قول مطابق، پاکستانی پوځ په بنګله‌دېش کې ناجایز اولادونه د دوو لاکو نه هم زیات پرې ایښي دي، استغفرالله.
په ۱۹۹۴ کې چې کله د سومالیا مجاهدینو امریکایان محاصره کړل، نو په هغه وخت کې هم دا پوځ په اول نمبر کې و، چې قومنداني یې کرنل مقبول افریدي کوله، چې د سومالیا مجاهدین او عام مسلمانان یې شهیدان کړل او خپل باداران یې د محاصرې نه وژغورل. نو هر ځای که راسپړو، د ظلم او وحشت بدبوي به ترې راخېژي، د داسې ظالم پوځ ده. دا یو داسې ظالم پوځ دی لکه څنګه چې مخکې یې د ظلم او ستم توره تیاره په ولس جوړه کړې وه، همداسې په تېرو کلونو کې یې خپل زوړ تاریخ د ظلم بیا اعاده کړ، چې تر اوسه دوام لري، او د خپلو بادارانو د خوشحالولو لپاره کله یو ډول ظلم انتخابوي او کله بل ډول.
دغه شان د تېر تاریخ په څېر یې په تېرو کلونو کې هم رنګارنګ ظلمونه ترسره کړل، چې په ۲۰۱۲ کې د دوبۍ ایېر شو (چې پکې نوې فضایي ټکنالوژي معرفي کېږي) کې د هغه وخت ایېر چیف په فخر سره وویل، چې موږ د امریکا سره د اتحاد وروسته په قبایلي سیمو کې ۱۵۰۰۰ بمـونه غورځولي دي، چې تر اوسه پورې دا لړۍ روانه ده.
له اولې ورځې نه پاکستانی پوځ مدارس او مساجد نه دي پرېښي، ځکه مدرسه د دین قلعه ده، مدرسه د دین بلېدونکې شمع ده، مدرسه د ظلم په تیارو کې بلېدونکی مشعل دی، مدرسه د رڼا شیندونکې ډېوه ده، چې وخت په وخت ترې د اسلام پتنګان تاوېږي، الوزي او سوځي.
مدرسه هغه ځای دی چې علماءِ حق پکې پیدا کېږي، قائدین او رهبران پکې جوړېږي. نږدې وختونو کې یې لنډ مثالونه لیدلی شو. مدرسه هغه روزنتون دی چې له غېږې یې ملا محمد عمر رحمه‌الله، ملا اختر منصور، ملا بیت‌الله محسود، ملا فضل‌الله، ملا حکیم‌الله، مفتي ابو عاصم نورولي محسود حفظه‌الله راوتلي دي، نو ځکه پوځ د قیام پاکستان نه راپه دېخوا نه یوازې دا چې حقیقي مدارس یې جوړ نه کړل، بلکې سلګونه مدارس یې ونړول. چې د دې ګڼ شمېر مثالونه شته، لکه جامعه حفصه او لال مسجد.
په جامعه حفصه باندې چې کوم ظلم شوی،

تاريخ کې يې مثال نشته. قلم يې د ليکلو نه عاجز دی. دومره ظلم يې کړی چې انسانيت هم ترې شرمېدلی دی. د جينکو سره يې دومره ناروا او شرمناک سلوک کړی چې اسمان هم پرې شرم محسوس کړی دی. ځوانان يې دومره بربنډ کړي چې اسمان هم پرې ژړلي وو. قرآن يې په تشنابونو کې غورځولی وو، چې حيوانات هم پرې وېرېدلي وو، خو د دې فرعوني پوځ زړه بيا هم نه دی خوړ شوی.

لوستونکي به وايي چې خامخا به دوی کوم جرم کړی وي چې دغه رويه ورسره شوې ده. خامخا به يې د آئين نه بغاوت کړی وي، د رياست خلاف به يې وسله پورته کړې وي.

هو! جرم و خو!

که دا جرم و چې په لال مسجد کې د امريکا خلاف احتجاج پيل شوی و. د لال مسجد او جامعه حفصه طلباو او طالباتو يو تحريک جوړ کړ (تحريکِ طلباء و طالبات) او دا غوښتنه يې کوله چې حکومت دې په اسلام‌آباد کې جوماتونه نه نړوي. که يې نړوي، نو بېرته دې بيا جوړ کړي. (د جوماتونو ورانول هغه وخت د امريکايانو غوښتنه وه، چې په اسلام‌آباد کې يې د ۸۰ جوماتونو د نړولو امر کړی و).

او بله غوښتنه يې دا وه چې په ملک کې دې فحاشي او عرياني ختمه کړای شي او د اسلام تنفيذ دې وشي، ځکه دا وطن د اسلام په نوم جوړ شوی دی.

نو يوازې همدا غوښتنې وې، او دا غوښتنې هم په پرامن طريقه وې، نه دا چې وسله يې اخيستې وه او نه يې کوم زور کارولی و. خو پاکستانی وحشي ظالم پوځ دغه غوښتنې بهانه وگرځولې او وضعيت يې لا خراب کړ. د ۲۰۰۷ کال د جولای له درېيمې تر لسمې پورې يې يو تر ټولو بد عمليات ترسره کړل.

نو اوس دې کتونکی قضاوت وکړي، چې ايا دا د طلباو کوم آئيني يا رياستي جرم و چې دومره ناروا سلوک ورسره وشو؟

دغه شان د باجوړ هغه مدرسه وه، چې د بمبار په لپه کې يې راوستله. ذمه‌واري يې هم پاکستانی پوځ قبوله کړه او دا يې ويل چې موږ دهشتگرد په نښه کړل او ووژل. خو په مدرسه کې دهشتگرد چيرته وو؟ هلته خو يوازې د ماشومانو غوښې ټوټې شوې وې، د قرآن اوراق سوځېدلي وو او مدرسه په مکمل ډول ورانه شوې وه. وروسته چې خبريالانو تحقيق وکړ، نو معلومه شوه چې د يوولسو کالو نه غټ ماشوم هم پکې نه و. اوس دې کتونکی قضاوت وکړي: ايا دا ماشومان دهشتگردان وو، که د قرآن ويلو له امله ووژل شول؟ که دا د دې

وېرې له امله وو، چې سبا به د قرآن په وسیله زموږ مقابله وکړي؟

دا هماغه فرعوني سوچ دی، لکه د موسیٰ علیه‌السلام له زېږون نه مخکې چې ماشومان وژل کېدل، چې سبا به زما بادشاهي نسکوره کړي. دا پوځ هم همدا خوی خپل کړی دی.

دغه شان نور هم د ظلم او وحشت داستانونه شته، چې پر خپل ولس یې کړي دي. د پاکستان پوځ هغه پوځ دی چې هر ځای یې د اسلام مقابله کړې ده، تر دې چې شعائرالله یې هم نه دي معاف کړي. جوماتونه او مدارس یې د ظلم او ستم لپاره د جیلخانو په توګه استعمال کړي دي. لکه څنګه چې په نږدې ورځو کې راز افشا شو، چې وزیرستان کې د عملیاتو په نوم زرګونه مساجد او مدارس شهیدان کړل. حتی یو مدرسه یې خالي کړه او وروسته یې د جیل په توګه استعمالوله، بیا یې خالي کړه. د دې مدرسې عکسونه په مېډیا کې هم وګرځېدل.

دغه شان شاوخوا څوارلس کاله مخکې، د خیبر باړې بازار کې یوه مشهوره دیني جامعه، چې د شیخ سراج‌الدین رحمه‌الله په نوم یادېږي، چې سلګونو طلباء پکې درس وایلو، د ظالم پوځ له‌خوا د عملیاتو په نوم بنده شوه او د ظلم یو تور زندان ترې جوړ شو.

دا زموږ د سترګو لیدلی حال دی، چې په همدې مدرسه کې یو لوی جومات و، په هغه کې به یې TV او ویسیار لګولې و، او د ځان د ګرمولو لپاره به یې اورونه بلول، تر دې چې د جومات دیوالونه به تول تور شوي وو. شاوخوا پنځه کاله مخکې دا جامعه بېرته خلاصه شوه، خو دومره تخریب شوې وه چې د مدرسې طلباو نږدې یوه میاشت یا زیات وخت د هغې په صفایي، رنګ او رغونه کې ولګاوه. د پاکستان پوځ په همدې ظلمونو هم اکتفا ونه کړه، بلکې د امت په وینو لړلي لاسونه یې تر علماوو پورې وغځول. د قیام پاکستان نه وروسته یې زرګونه علما شهیدان کړل، زرګونه یې لاپته کړل، چې نن هم د ظلم تورې شپې د تورو پنجرو تر شا سبا کوي. بوډۍ مور یې لا تر اوسه د وره زنځیر ته ګوري، مېرمن یې د خاوند په تمه خپل تور سر سپین کړ. دا هغه علما دي چې حدیث کې ورته «نجوم الأرض» ویل شوي، «ورثة الأنبياء» بلل شوي، د ټولنې مصلحین او محسنین دي، امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي، او د وخت ظالمان له ظلم نه منع کوي. خو دا ظالم پوځ راغی او زموږ د سرونو نه یې دا سیوری پورته کړ. ځینې یې شهیدان کړل، ځینې یې بندیان کړل. هر عالم چې د ظالم حکمران مخې ته ودرېد او د حق خبره یې وکړه، نو لومړی

يې په مرميو وډاراوه، که بیا هم و نه وېرېده، نو د خپلو پالل شویو مزدورانو په لاس یې شهید کړ.
د یو څو مشهورو علماوو نومونه دلته یادوو:
۱) شهید مولانا حسن جان رحمه‌الله (۲۰۰۷، پېښور)
۲) شهید مفتي نظام‌الدین شامزی رحمه الله (۲۰۰۴، کراچي)
۳) شهید مولانا سمیع‌الحق رحمه الله (۲۰۱۸، راولپنډی)
۴) شهید مولانا یوسف لدهیانوي رحمه الله (۲۰۰۰، کراچي)
۵) شهید مولانا حق‌نواز جنګوي رحمه الله (۱۹۹۰، جنګ)
٦) شهید مولانا ضیاءالرحمن فاروقي رحمه الله (۱۹۹۷، فیصل‌آباد)
۷) شهید مولانا اعظم طارق رحمه الله
۸) شهید مولانا علي شیر حیدري رحمه الله
۹) شهید شیخ‌القرآن ولي‌الله کابلګرامي رحمه الله
۱۰) شهید مولانا سلطان غني عارف رحمه الله
دا ټول په هغو ښارونو کې شهیدان شوي چې د پاکستان تر ټولو امن ښارونه بلل کېږي. نو دا ویل چې «شاید بل چا کړي وي» هیڅ منطق نه دی.
دا پوځ د ختم نبوت سره هم دښمني لري. یو طرف د ختم نبوت د دښمنانو ساتنه کوي، او بل طرف د ختم نبوت محافظینو ته د مرګ سزا ورکوي. همدارنګه غازي خالد نن هم د ظلم او وحشت شپې تېروي. اللهم فکّ أسرانا.
د دې فوج نور هم ډېر ظلمونه دي چې د اختصار له امله یې راکموم. چې کله یو فوج په دومره ظلمونو پېژندل کېږي، په دومره ظلمونو باندې تورن وي، نو څنګه د یو وطن محافظین او ساتونکی فوج ګڼل کېدای شي؟ دا خو هغه فوج دی چې مدارس یې معاف نه کړل، مساجد یې معاف نه کړل، مېلمه مهاجر یې معاف نه کړل، انسانان یې معاف نه کړل، د قرآن صحایف یې معاف نه کړل. د دوی د بمونو ښکار حیوانات هم وګرځېدل. لکه په تېر کال کې چې وزیرستان کې د دغو غواګانو په منډیی بمبار وشو، چې په ډېر تعداد مېښې او غواګانې ژوندي وسوځول شوې، چې د هغې ویډیوګانې په مېډیا باندې وایرل شوې وې، او اوس هم په رسنیو کې شتون لري. دغه شان په قبایلي سیمو کې د آپریشن په نوم باندې، د خپل بادار (امریکا) د خوشحالولو لپاره، بې‌دریغه بمبارونه وکړل، چې اوس هم دغه بمبارونه دوام لري. په دې آپریشن کې په ړندو سترګو ړوند بمبار کېږي، انسان، حیوان، ماشوم، ښځه، هېڅ توپیر نه کوي.
په تیراه میدان کې د واده په غونډه برید وشو. اوس

په ۲۰۲۶ کې بیا نوی عملیات اعلان شو، چې خلک یې په یخ موسم کې بې کوره کړل، ماشومان د یخنۍ له امله د میندو په غېږ کې مړه شول.
د سوات یوه زړه‌بوږنوونکې پېښه ده چې په ۲۰۱۲ کال کې رامنځته شوه. د یوې کورنۍ اوه ورونه وو. له دې ډلې څخه دوه ورونه پوځ د شپې له کوره یووړل، او څو ورځې وروسته یې هماغه دوه ورونه شهیدان کړل او جسدونه یې بېرته کور ته راوړل. له دې وروسته پاتې ورونه د زده‌کړې لپاره کراچۍ ته لاړل، خو پوځ هغوی هم بېرته په بانو راوغوښتل، او ډاډ یې ورکړ چې «هیڅ به نه درته ویل کېږي». کله چې هغوی رورسېدل، نو هماغه دوه ورونه یې هم لاپته کړل. دوه کاله وروسته یې هغوی خوشې کړل. والدین ډېر خوشحال شول، د خوشحالۍ له امله یې خیرات هم وکړ. خو لا څو ورځې نه وې تېرې شوې چې هماغه دوه ورونه بیا د بلې ادارې له‌خوا پورته کړل شول، او څو ورځې وروسته یې جسدونه بېرته کور ته راوړل شول.
د دې درد له امله پلار هم د زغم توان و نه شو کړای او له ډېر غم نه یې ساه ورکړه. پاتې درې ورونه د مرګ له وېرې هجرت ته مجبور شول، خپل وطن، کور او ټاټوبی یې پرېښود، او پردیسۍ ته لاړل.
نو تاسو څه فکر کوئ چې دې ظالم ریاست ته به څوک معافي وکړي؟
دوی به د انتقام د اور لمبې شپه او ورځ نه سوځوي. آیا د دې پوځ نه به انتقام اخیستل غلط کار وي؟ آیا د دې خلاف وسله راخیستل به خروج او بغاوت وي؟ آیا د دې خلاف وسله راخیستل به دهشتګردي وي؟
نو دغه حالات دي چې په قبایلي سیمو کې شل ـ یوویشت کاله وچلېدل، چې دې ظالم پوځ لاسونه تر پنجاب ولایت هم ورسېد.
په ۲۰۲۵ کال د ۱۳ اکتوبر په ورځ، د مریدکې ښار کې د تحریک لبیک پاکستان (TLP) یوه پرامنه جلسه وه، چې د فلسطین او غزې په ملاتړ وه. نو پولیس، رېنجر او نورو امنیتي ادارو د ظلم توره ورځ جوړه کړه، چې د رسنیو د قول مطابق ۴۰۰ - ۵۰۰ مرګونه وشول. یو تور تاریخ یې جوړ کړ، او تر څو ورځو پورې دا لړۍ روانه وه، چې مرګ‌ژوبله تر زرو ورسېده، او په سیمه کې د غم او غصې فضا خپره شوه. په ګڼ شمېر اراکین اوس هم د ظلم او ستم شپې په بند کې تېروي. په پاکستان کې نن په اوسني عصر کې نر او ښځه، ځوان او ماشوم، بوډا، چرند پرند، هر ساه اخیستونکی موجود د پوځ له ظلم نه په تنګ راغلی دی.
تاجران هم د توان په سخت بحران کې راګیر دي، د لارو د بندښت له امله په اربونو او کروړونو

تاوانونه شوي دي، چې د دې ذمه‌وارۍ ډلې هم ستېبلشمنټ ادارې دي. نو کله چې پاکستانی پوځ دومره ظلمونه وکړل، نو د علماوو يو مشهور قول دی: «الملک يبقى مع الكفر ولا يبقى مع الظلم» يعنې حکومت د کفر سره پاتې کېدای شي، خو له ظلم سره نه شي پاتې کېدای. نو د دې واکداره ظالم پوځ حکومت تر اوسه چلېده، خو اوس نه. الله تعالی د دې ظلمونو په نتيجه کې تحريک طالبان پاکستان وجود ته راوست، چې لله الحمد نن د عروج په مرحله کې دی، او د وخت لوی فرعون ته يې غاښ ماتونکی ځواب ورکړی دی. اوس هم دوی د تحريک طالبان پاکستان د ګړنديو عملياتو لاندې راګير دي، او ان‌شاءالله نږدې ورځو کې به دا تور، خود ساخته نظام رانسکور شي، او يو سپين توغ بيرغ به په اسلام‌آباد رپاند شي.

لکه څنګه چې د حسن بصري رحمه‌الله قول دی: «إن الله يمهل الظالم، فإذا أخذه لم يفلته» يعنې الله ظالم ته مهلت ورکوي، خو چې کله يې ونيسي، بيا يې نه پرېږدي. همدا حالات روان دي. دومره بې‌دريغه ظلمونه يې وکړل، الله مهلت ورکړ، خو اوس د مرګونو ګوزارونو لاندې راغلي دي. تاسو ته ښکاره ده چې د تحريک طالبان پاکستان د حملو راپورونه کال په کال زياتېږي. د رسنيو مطابق په ۲۰۲۵ کال کې د حملو شمېر ۳۵۷۳ ته رسېدلی، چې دښمن ته يې سخته مرګ‌ژوبله اوښتې ده. دا ښکاره ثبوت دی چې ظالمې ادارې د الله په ګرفت کې دي. د پاکستاني پوځ د ظلم نور تور داستانونه لنډوم.

خو د ظلم يوه بله بېلګه دا ده چې شيخ‌القرآن ګل محمد باجوړي حفظه‌الله مونږ ته په يو درس کی بيان کړی وه، چې په بګرام زندان کې به جيلرانو بنديانو ته د پاکستان د جيل په نوم تهديد کاوه، او ورته به يې ويل: که تحقيق ورنه کړې، پاکستاني جيل ته به دې انتقال کړو. دا خبره د پاکستان د ظلم تور تاريخ ښکاره کوي، چې جيلران به د امريکا ګوانتانامو يا د اسراييلو زندان ته نه، بلکې د پاکستان جيل ته د انتقال په نوم ګواښ کاوه. نو دا څومره لوی ثبوت دی چې د پاکستان ظلم د امريکا او اسراييلو نه هم زيات دی. نو څه فکر کوئ، څومره علما، طلباء او مجاهدين به د پاکستان د تورو ديوالونو تر شا تورې شپې سبا کوي؟ دا هغه حکومت دی چې ځان د وطن محافظ بولي، حال دا چې که د دې ظلمونه وليکل شي، قلم به وژاړي، پاڼې به اوښکې توی کړي، او کتاب به د ليکلو اجازه ورنه کړي. نو په پای کې زه په ټول اسلامي امت غږ کوم: عرب وي که عجم، تاجک وي که اوزبک، پښتون وي که هزاره،

(پاتې پر ۱۵ مخ...)

ليکوال: مولوي ابودجانة خراساني

دفاعي جهاد او د امير اجازه!

جهاد د اسلامي شريعت له هغو سترو، اساسي او بنسټيزو احکامو څخه دی، چې د امت د عزت، د دين او عقيدې د ساتنې او د مسلمانانو د امنيت د ټينګښت لپاره تشريع شوی دی. د فقهاوو په وينا، جهاد په عمومي ډول په دوو مهمو ډولونو ويشل شوی: اقدامي جهاد (جهادُ الطلب) او دفاعي جهاد (جهادُ الدفع).

جهادُ الطلب (اقدامي جهاد) هغه جهاد ته ويل کيږي چې مسلمانان د کفارو پر اصلي قلمرو پرمختګ وکړي، د هغوی د فتنې او ظلم مخه ونيسي، او هغوی په خپل ټاټوبي کې تر فشار او جګړې لاندې راولي. دا ډول جهاد د شريعت له نظره فرض کفايي دی؛ يعنې که د مسلمانانو له ډلې يوه ډله يې ترسره کړي، د نورو له غاړې ساقطيږي. ځکه دا جهاد د امت له عمومي مصلحتونو، د جګړې له ستراتيژۍ، او د اسلامي دولت له سياسي او نظامي تدبيرونو سره ژور تړاو لري، نو تر ډېره د اميرالمؤمنين (اسلامي حاکم) د صلاحيت او مسؤليت برخه ګڼل کيږي. له همدې امله علماوو ويلي دي، چې په جهادُ الطلب (اقدامي جهاد) کې د امير اجازه، د والدينو اجازه او د حق لرونکو (قرض غوښتونکو) اجازه د اعتبار وړ شرطونه دي، ځکه دا اقدام فردي نه، بلکې د امت د عمومي تصميم برخه ده.

خو جهادُ الدفع (دفاعي جهاد) هغه جهاد دی چې کفار د مسلمانانو پر خاوره بريد وکړي، د هغوی دين، عزت، مال، عقيده او ځان تر ګواښ لاندې راولي، او مسلمانان په خپل ټاټوبي کې د يرغل او ظلم تر سيوري لاندې کړي. دا ډول جهاد د شريعت له نظره فرض عين دی؛ يعنې په داسې حالت کې هر مسلمان د خپل وس او توان مطابق د دفاع مسؤليت لري. فقهاء کرامو دا هم ويلي دي، چې دفاعي جهاد د اسلام له مهمو فرضونو څخه دی، بلکې د «لا إله إلا الله» له کليمې وروسته د دين د ساتنې او د امت د بقا لپاره تر ټولو ستره عملي فريضه ګڼل کيږي.

په دفاعي جهاد کې د امير اجازه شرط نه پاتې کيږي، ځکه دښمن د مسلمانانو پر خاوره داخل شوی وي او حالت د اضطرار او عمومي دفاع حالت وي.

شیخ الاسلام علامه حافظ ابن تیمیه رحمه الله په خپل ستر اثر الفتاوی الکبری (ج۴، ص۶۰۸) کې د دفاعي جهاد په اړه داسې فرمايي:

وأما قتال الدفع فهو أشد أنواع دفع الصائل عن الحرمة، فواجب إجماعًا، فالعدو الصائل الذي يفسد الدين والدنيا لا شيء أوجب بعد الإيمان من دفعه، فلا يشترط له أي شرط.

ژباړه: اما دفاعي جګړه (قتال الدفع) د هغه تېري کوونکي د دفع کولو تر ټولو سخت او لازمي ډول دی چې د مسلمانانو پر حرمت او خاوره برید کوي، او دا په اجماع سره واجب ده. هغه یرغلګر دښمن چې دین او دنیا دواړه فاسدوي، له ایمان وروسته تر ټولو واجب کار د هغه دفع کول دي؛ نو د دې لپاره هېڅ شرط نشته.

د شیخ الاسلام علامه حافظ ابن تیمیه رحمه الله د دې قول لنډیز په درې مهمو ټکو کې راټولېږي: لومړی دا چې دفاعي جهاد فرض عین دی او د امت پرې اجماع ده، ځکه هغه (رحمه الله) وايي: (فواجب إجماعاً). دوهم دا چې دفاعي جهاد له ایمان وروسته تر ټولو ستر واجب دی، ځکه فرمايي: (لا شيء أوجب بعد الإيمان من دفعه). درېیم دا چې دفاعي جهاد هېڅ شرط او قید ته اړتیا نه لري، ځکه په ښکاره ټکو وايي: (فلا يشترط له أي شرط)؛ یعنې نه د امام اجازه شرط ده، نه د والدینو اجازه، او نه هم بل قید.

له همدې امله، دفاعي جهاد د شریعت له مخې داسې فرض دی چې د دښمن د یرغل پر مهال د امت پر هر مسلمان لازم او فرض ګرځي. په دې حالت کې د امیر اجازه شرط نه پاتې کېږي، ځکه دا د فردي خوښې مسئله نه ده، بلکې د دین، خاورې، عزت او ژوند د ژغورنې او د اسلامي مقدساتو د ساتنې مسئله ده.

همدارنګه امام ابن حزم الاندلسي رحمه الله په خپل کتاب طریق الجهاد (ص: ۱۲۰) کې فرمايي:

ولا اثم بعد الكفر اعظم من اثم من نهى عن جهاد الكفار وامر المجاهدين بحريم المسلمين اليهم.

ژباړه: له کفر وروسته تر ټولو لویه ګناه دا ده چې څوک د کفارو له جهاد څخه منع وکړي، او مجاهدین د مسلمانانو له سیمو څخه د کفارو د نه شړلو امر وکړي.

د ابن حزم رحمه الله د دې قول مطلب دا دی چې له کفر وروسته ترټولو لویه ګناه او ستر جرم دا دی، چې څوک مجاهدین د جهاد له میدان څخه منع کړي، په داسې حال کې چې د کفارو (او د ملګرو) پوځونه یې د اسلامي ټاټوبي پر خاوره

موجود وي.
په اوسني وخت کې ټولو مسلمانانو ته دا حقیقت څرګند دی، چې د مسلمانانو ځینې جهادي تحریکات او غورځنګونه - لکه تحریک طالبان پاکستان - په دفاعي حالت کې قرار لري، او د خپل ټاټوبي د دفاع لپاره د دجال لښکرو او د هغوی له ځایناستو سره د حق په جګړه بوخت دي. دا هم ټولو ته معلومه ده، چې دغه مجاهد ځواکونه د ظاهري اسبابو او امکاناتو له پلوه د دښمن په پرتله ډېر کمزوري او بې وسه دي.
نو هدف دا دی چې مسلمانان په دفاعي جهاد بوخت دي، او کله چې دا خبره ثابته شي چې روان جهادي بهیر له جهادُ الدفع څخه دی، نو بیا په دفاعي جهاد کې دا مسئله د علماوو په اتفاق سره ثابته ده، چې د امیر اجازه پکې شرط او معتبر نه ده.
شیخ المجاهدین ډاکټر عبدالله عزام رحمه الله په خپل مشهور اثر: "الدفاع عن أراضي المسلمین أهم فروض الأعیان" کې په دې مسئله ژوره او پراخه څېړنه کړې ده. موږ به د هغه د تحقیق لنډیز، او هغه اضافي دلایل چې په نورو کتابونو او مراجعو کې موندل شوي، د موضوع د وضاحت لپاره دلته راونقل کړو.
په دفاعي جهاد کې د امیر اجازه شرعاً معتبره نه ده، او د دې حکم دلایل په لاندې ډول دي:
لومړی دلیل: د قرآن کریم صریح نص؛ الله تعالی فرمایي:
لَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ
(التوبة ۴۴)
ژباړه: له تا څخه اجازه نه غواړي هغه کسان چې په الله تعالی او د آخرت په ورځ ایمان لري، چې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد وکړي، او الله تعالی په پرهېزګارانو ښه پوه دی.
امام قرطبي رحمه الله د همدې آیت په تفسیر کې فرمایي:
قوله تعالى لا يستأذنك الذين يؤمنون بالله واليوم الآخر أي في القعود ولا في الخروج، بل إذا أمرت بشيء ابتدروه، فكان الاستئذان في ذلك الوقت من علامات النفاق لغير عذر.
ژباړه: د الله تعالی دا وینا چې: "اجازه نه اخلي له تا څخه هغه کسان چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري"؛ یعنې دوی نه د جهاد د پرېښودلو لپاره اجازه غواړي، او نه د جهاد د وتلو لپاره. بلکې کله چې ته هغوی ته په څه امر وکړې، نو ژر تر ژره یې عملي کوي. نو په داسې وخت کې بې له عذر څخه اجازه غوښتل د نفاق له نښو څخه

ګټل کېږي.

د دلیل خلاصه: د دې آیت او د امام قرطبي رحمه الله د تفسیر لنډیز او خلاصه دا ده چې کله چې جهاد فرض عین وي (یعنې د دفاع حالت وي)، نو په هغه وخت کې د جهاد لپاره د اجازې غوښتل، که د وتلو اجازه وي، او که د پاتې کېدو اجازه؛ د ایمان له روحیې سره نه جوړېږي، بلکې د نفاق له نښو څخه شمېرل کېږي. ځکه د فرض عین جهاد په حالت کې مسلمان مکلف دی چې د خپل دین، عزت، عقیدې، مال او خاورې د دفاع لپاره بې له ځنډه راپورته شي، او د حق په سنګر کې ودرېږي.

دوهم دلیل: د سلمة بن الأکوع رضي الله عنه حدیث؛ په صحیح البخاري او صحیح المسلم کې د سلمة بن الأکوع رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي:

عن سلمة بن الأكوع قال: خرجت من المدينة ذاهبًا نحو الغابة، حتى إذا كنت بثنية الغابة لقيني غلام لعبد الرحمن بن عوف، قلت: ويحك ما بك؟ قال: أُخذت لقاح النبي ﷺ، قلت: من أخذها؟ قال: غطفان وفزارة. فصرخت ثلاث صرخات أسمعت ما بين لابتيها: يا صباحاه! يا صباحاه! ثم اندفعت حتى ألقاهم وقد أخذوها، فجعلت أرميهم وأقول: أنا ابن الأكوع... واليوم يوم الرضع. فاستنقذتها منهم قبل أن يشربوا. فأقبلت بها أسوقها، فلقيني النبي ﷺ فقلت: يا رسول الله، هلا إن القوم عطاش، وإني أعجلتهم أن يشربوا، فابعث في أثرهم. فقال: يا ابن الأكوع، ملكت فاسجع، إن القوم يقرون في قومهم. (متفق عليـه)

ژباړه: له سلمة بن الأکوع رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: زه له مدینې څخه د غابه پر لور روان شوم، چې کله د غابه تر درې پورې ورسېدم، د عبدالرحمن بن عوف یو غلام مې ولید. ما ورته وویل: افسوس پر تا! څه خبره ده؟ هغه وویل: د رسول الله ﷺ شیدې ورکونکي اوښان یووړل شول. ما وویل: چا یووړل؟ هغه وویل: غطفان او فزاره.

نو ما درې ځله داسې لوړ غږ وکړ چې د مدینې د دواړو غرو ترمنځ واورېدل شو:

یا صباحاه! یا صباحاه!

بیا په منډه ورپسې شوم تر دې چې ورسره مخ شوم، دوی اوښان بیولي وو، نو ما پرې غشي وویشتل او ویل مې: زه ابن الأکوع یم... او نن د شیدو څښونکو ورځ ده! تر دې چې ما اوښان ترې خلاص کړل مخکې له دې چې دوی اوبه

وځښتي.

بیا مې هغه اوښان روان کړل او د رسول الله ﷺ سره مخ شوم. ما وویل: یا رسول الله! قوم تږی دی، او ما هغوی شړلي دي، که څوک ورپسې ولېږې؟ نبي ﷺ وفرمایل: ای ابن الأکوع! ته بریالی شوې، نو آرام وکړه، ځکه هغوی اوس د خپل قوم په منځ کې پناه اخلي.

د حدیث لنډیز او د استدلال وجه:

د دې حدیث لنډیز او خلاصه دا ده چې کله په مدینه منوره ناڅاپي برید وشو او د دښمن ډلې د رسول الله ﷺ شیدې ورکونکي اوښان یووړل، نو سلمة بن الأکوع رضي الله عنه بې له دې چې د رسول الله ﷺ اجازه واخلي، په یرغلگرو پسې وخوت، پر هغوی یې برید وکړ، او مال یې ترې راخلاص کړ.

دا څرګندوي چې د مسلمانانو د حریم او مال د دفاع په حالت کې، چې دښمن حمله وکړي او عاجل خطر موجود وي، نو د دفاع اقدام اجازې ته نه منتظر کېږي؛ ځکه دا حالت د اضطرار او عاجلې دفاع حالت وي، او د شریعت له مخې دفاعي جهاد په دغه ډول حالتونو کې ځنډ نه مني.

درېیم دلیل: د بنی قینقاع پېښه

بني قینقاع یوه یهودي قبیله وه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره یې صلحه کړې وه. خو یوه ورځ په بني قینقاع د یهودانو په بازار کې یوه مسلماني ښځه د سپکاوي او بې عزتي سره مخ شوه. په دې وخت کې یو مسلمان صحابي په دغه ناوړه عمل غبرګون وښود او هغه یهودي یې ووژلو.

د پېښې ارزښت او حکم:

له دې پېښې څخه په څرګند ډول معلومېږي چې که څه هم نبي کریم صلی الله علیه وسلم له یهودو سره صلحه درلوده، خو کله چې د یوې مسلماني خور عزت ته ګواښ ورسېد، صحابه کرامو د صلحې تړون ته پاملرنه ونه کړه او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې د اجازې غوښتلو ته اړتیا ونه ګڼله.

د دلیل نتیجه:

دا واقعه په ښکاره توګه ښیي چې د دفاعي جهاد په حالت کې، کله چې د مسلمانانو عزت، دین او حریم ته ګواښ واقع شي، نو جهاد د فردي مسؤلیت په توګه مطرح کېږي او د امیر اجازې ته هېڅ اړتیا نه لري.

څلورم دلیل: د امام سرخسي رحمه الله قول

امام سرخسي رحمه الله په خپل کتاب شرح سیر الکبیر (ج: ۴، ص: ۱۴۵۷) کې فرمایي:

وإن نهى الإمام الناس عن الغزو والخروج للقتال فليس ينبغي لهم أن يعصوه إلا أن يكون النفير

عاما، لأن طاعة الأمير فيما ليس فيه ارتكاب المعصية واجب، كطاعة السيد عبدَه، فكما أن هناك بعد نهي المولى لا يخرج إلا إذا كان النفير عاما فكذلك هنا.

ژباړه: که امام خلک له غزا او جګړې وتلو څخه منع کړي، نو خلکو ته نه ښايي چې د هغه نافرماني وکړي، پرته له دې چې عمومي نفير اعلان شوی وي؛ ځکه د امير اطاعت په هغه څه کې چې ګناه پکې نه وي، واجب دی، لکه څنګه چې د بادار اطاعت پر خپل غلام واجب دی. نو لکه څنګه چې غلام د خپل مالک له منع وروسته نه وځي، مګر هغه وخت چې عام نفير وي، همداسې دلته هم حکم دی.

د دليل خلاصه:

دغه قول څرګندوي چې د امير اجازه په عام نفير (يعني فرض عين يا ټولنيز جهاد) کې اړينه نه ده او په دې حالت کې بايد هر مسلمان بې له ځنډه د دفاع لپاره ميدان ته راووځي. خو که جهاد نفير عام (دفاعي) نه وي، نو د امير د حکم اطاعت کول لازمي دي.

پنځم دليل: د امام ابن رشد رحمه الله قول

امام ابن رشد رحمه الله فرمايي:

طاعة الإمام لازمة وإن كان غير عادل ما لم يأمر بالمعصية ومن المعصية النهي عن جهاد المتعين.

ژباړه: د امام اطاعت لازم او فرض دی، که څه هم هغه عادل نه وي، تر هغه چې په ګناه امر ونه کړي. او له ګناهونو څخه يو ګناه دا هم ده چې څوک له فرض عين جهاد څخه منع کړي.

شپږم دليل: د امام ابن حبيب المالکي رحمه الله قول

امام ابن حبيب المالکي رحمه الله فرمايي:

سمعت أهل العلم يقولون إن نهى الإمام عن القتال لمصلحة حرمت مخالفته إلا أن يزحمهم العدو.

ژباړه: ما د علماؤو څخه اورېدلي چې وايي: که امام د کوم مصلحت له مخې د جګړې مخه ونيسي، نو د هغه مخالفت حرام دی، خو که دښمن پر مسلمانانو يرغل وکړي، نو بيا مخالفت روا دی.

اووم دليل: د صاحب المقنع قول

صاحب المقنع ليکي:

ولا يجوز الغزو إلا بإذن الأمير ... إلا أن يفاجئهم.

ژباړه: جهاد (غزا) روا نه دی مګر د امير له اجازې پرته، خو که دښمن ناڅاپه بريد وکړي، نو په دغه حالت کې اجازه شرط نه ده.

(پاتې پر ۳۷ مخ...)

ليکوال: محمد بدري المهاجر

په ۲۰۲٦م کال کې د بلوچو پراخ وسلوال برید د پوځي ریژیم د ظلمونو هنداره ده

د ۲۰۲٦م کال د جنورۍ په ۳۱مه، د بشیر زېب بلوچ په مشرۍ د بلوجستان آزادۍ غوښتونکي پوځ (بي‌ايل‌اې) د پاکستان په بلوچستان ایالت کې پراخ او همغږي عملیات ترسره کړل. دغه بریدونه چې په کوټه، گوادر، نوشکي، مستونگ، خاران، پنجگور، دالبندین، پسني او نورو سیمو کې پر امنیتي تاسیساتو، د پولیسو په مرکزونو، زندانونو، بانکونو، د رېل گاډي پر پټلیو او لویو لارو وشول، د نورو پرمختگونو او پوځ ته د تلفاتو اړولو ترڅنگ، یادې سیمې یې تر خپل لنډمهاله کنټرول لاندې راوستلې.

دغه عملیات چې «هیروف (تور توپان)» نومېږي، په تېرو څو لسیزو کې تر ټولو لوی او پېچلی برید بلل کېږي، چې په ترڅ کې یې سلگونه پاکستاني پوځیان، پولیس او امنیتي کارکوونکي وژل شوي دي. دا پېښه نه یوازې د بلوچ وسله‌والو ځواک څرگندوي، بلکې د پاکستان د پوځي رژیم سیاسي، نظامي، استخباراتي او اقتصادي ژورې کمزورۍ هم په ډاگه کوي، چې مهم ټکي یې په لاندې ډول دي:

۱ـ د بلوڅانو تاریخي مخینه:

بلوچستان، چې د پاکستان ترټولو پراخه خو لږ نفوسه سیمه ده، له ۱۹۴۸م کال راهیسې له دغه هېواد سره د جبري الحاق پر وړاندې زغمونکی مقاومت کوي. بلوڅ ملتپالان ټینگار کوي چې پاکستان په زور د دوی خاوره اشغال کړې او د دې ایالت غني طبیعي زیرمې لکه گاز، تېل، سره زر او مس په بې‌رحمانه ډول له ځایي خلکو څخه اخلي. په تېرو پنځو کلونو کې د بلوڅانو د وسله‌والو بریدونو کچه شاوخوا ٦۰ سلنه زیاته شوې ده، ځکه هغوی دا مبارزه د خپلې ځمکې د آزادۍ او له استعمار سره د مقابلې یوازینۍ لار گڼي. دا وضعیت څرگندوي چې د پاکستان پوځي رژیم د سیاسي خبرو پر ځای له نظامي ځپنو کار اخلي، کوم چې د بلوڅ مقاومت د لا پیاوړتیا او دوام سبب گرځېدلی دی.

۲ـ د بریدونو جزئیات، څرنګوالی او لاملونه:

دغه پراخ بریدونه د ۲۰۲۶ن کال د جنوري په ۳۱مه سهار وختي پیل شول او په ۱۲ تر ۱۴ ښارونو کې په همغږي ډول ترسره شول. په دې عملیاتو کې ځانمرګي بریدونه، وسلهوالې نښتې او لاسي بمي بریدونه شامل وو. د بلوچستان آزادي غوښتونکی پوځ (بي‌ايل‌اې) ادعا کوي چې په دې جګړه کې سلګونه جنګیالیو برخه اخیستې او دوی څه باندې ۳۰۰ حکومتي سرتېري، پوځیان، پولیس او حکومتي ملېشې وژلي دي، خو پاکستاني چارواکي د خپلو ۳۰ پوځیانو او ۴۵ ملکي وګړو د وژل کېدو خبر ورکوي او وايي چې دوی ۱۷۷ وسلهوال وژلي دي. په دغو بریدونو کې د مستونګ زندان ماتول، د رېل ګاډي پټلیو او لویو لارو بندول شامل ول چې د دې له امله په ډېرو سیمو کې انټرنېټ او مخابراتي خدمات ودرېدل. دغه عملیات چې «هېروف» دویم پړاو بلل شوی، د جنوري د ۲۹مې او ۳۰مې د پوځي عملیاتو غبرګون و چې په کې ۴۱ وسلهوال وژل شوي وو. دا پېښه څرګندوي چې مخالفې ډلې د پراخو او همغږو پلانونو عملي کولو وړتیا لري، چې د حکومت د امنیتي اقداماتو ناکامي په ډاګه کوي.

۳ـ نظامي ضعف او د چټک ځواب ورکولو ناتواني:

پاکستاني پوځ، چې د شاوخوا ۶۵۰۰۰۰ سرتېرو په درلودلو سره د جنوبي آسیا یو له سترو پوځونو شمېرل کېږي، په دغو بریدونو کې خپله لومړنۍ کمزوري څرګنده کړه. دا چې وسلهوالو په یوه وخت کې په څو ښارونو کې همغږي بریدونه وکړل، د پوځ د ځواب ویلو د ځنډ او کمزورۍ ښکارندويي کوي. که څه هم پوځ وروسته په څلورو څلوېښتو ساعتونو کې د وسلهوالو د وژلو راپور ورکړ، خو د لنډې مودې لپاره د زندانونو، تاسیساتو او سیمو له لاسه ورکول د ځمکنۍ کنټرول کمزورتیا ښکاره کوي. بلوچستان پراخې او لیرې پرتې سیمې لري چې د لوجستیکي ستونزو له امله پوځ له ډېرو ننګونو سره مخ دی. په تېرو کلونو کې ورته پېښې، لکه په ۲۰۲۴م کال د مچ ښار نیول، ښيي چې پوځ د تېرو تجربو څخه د ګټلو پر ځای بیا هم د ورته ګواښونو په وړاندې نه دی چمتو شوی. دا نظامي کمزوري زیاتره د پوځي اسټبلېشمنټ د کورني امنیت کمې پاملرنې او تمـرکز نه لرلو پایله ده،

۴ـ استخباراتي خلا؛ د بریدونو په کشف او مخنیوي کې پاتې راتلل:

د پاکستان استخباراتي اداره (آی‌ایس‌آی)، چې په سیمه او نړۍ کې د ځواکمنې شبکې په توګه پېژندل کېږي، د دغه پراخ او پېچلي برید د مخنیوي

په برخه کې پاتې راغله. د داسې يوې سترې او همغږې حملې پټ پلان جوړول او عملي کول د استخباراتي ادارې جدي کمزوري او د معلوماتو په تبادله کې ستونزې ښيي. د افغانستان او ايران سره پر پولو د نفوذ منل، چې دا پوله يې پرانيستې (Porous) پاتې ده، وسله‌والو ته اسانه لار هواره کړې چې وسلې، وسايل او جنګيالي انتقال کړي. په تېرو مياشتو کې د ناامنيو کچه تر ۳۰ سلنې پورې لوړه شوې، خو استخباراتي ادارې تر ډېره په دې کې پاتې راغلي چې په وخت او مؤثر ډول دې ګواښونه کشف او شنډ کړي.

شنونکي وايي چې د استخباراتي ادارو زيات تمــرکز د ځايي خلکو پر فشار اچولو او نظارت کولو دی، په داسې حال کې چې د حقيقي امنيتي ګواښونو د کشف لپاره اغېزمن استخباراتي هڅې کمرنګه پاتې دي.

۵- سياسي کمزوری؛ د بنسټيز حل نشتوالی:

په سياسي کچه دغه بريدونه د بلوچستان د وضعيت او د پاکستان د دولت د ناکامو پاليسيو ثرګندونه ده. بلوچستان له پراختيا بې برخې دی، بېکاري پکې تر ۵۰ سلنې پورې لوړه ده، او د بشري حقونو پراخې سرغړونې د خلکو ژوند له کړاوونو ډک کړی دی. پر ځای د دې چې د ستونزو د هوارې لپاره جامع سياسي ډيالوګ وشي، پوځي رژيم پر جبري لادرکيو (Enforced disappearanc-es) او پوځي ځپنو تکيه کړې، چې اتکل کېږي تر شلو زرو پورې بلوڅان پکې ښکېل دي. دغه سياستونه د خلکو غبرګون او د مقاومت دوام لامل شوي، ځکه چې د ستونزو ريښې نه دي پرېکنده شوې.

د بلوچستان اعلی وزير، سرفراز بګټي، د وسله‌والو کورنۍ د نښه کولو ګواښ کړی، چې دا ډول کړنې د نړيوالو انساني حقوقو قوانينو خلاف او ډله‌ييزه سزا ګڼل کېږي. دغه تګلارې د مقاومت اور ته نوره هم لمن وهي، ځکه ولس احساسوي چې دولت د دوی حقونه نه مني او د هغوی استازيتوب نه کوي.

٦- اقتصادي اغېزې او د سيمې بې‌ثباتي:

دغه بريدونه د چين-پاکستان اقتصادي دهلېز (CPEC) لپاره ستر ګواښ دی، چې په کې چين شاوخوا ۲۵ ميلیارده ډالره پانګونه کړې ده. د ګوادر بندر او د رېل پټليو بندېدل د سيمې اقتصاد ته ستر زيان رسوي او د بلوچستان په ناخالص کورني توليد (GDP) منفي اغېزې لري. روانې ناامنۍ د کانونو د استخراج مخه نيسي، چې له امله يې پاکستان ته په کلني ډول نېږدې ۲ ميلیارده ډالره مالي زيان رسېږي. دا ثرګندوي چې پوځي رژيم پرته له امنيتي ثبات څخه اقتصادي پرمختګ نه

شي ترلاسه کولی، چې دا وضعیت بهرني پانګوال، په ځانګړې توګه چین، په جدي توګه اندېښمن کړي دي.

۷ـ د بشري حقونو نقض او پر ولسي وګړو اغېزې:

په جګړو کې د بې‌ګناه ملکي وګړو، په ځانګړې توګه ښځو او ماشومانو وژل او د انټرنېټي خدماتو بشپړ پرې کېدل د بشري حقونو ښکاره سرغړونه ګڼل کېږي. د بشري حقونو سازمانونه څرګندوي چې پوځي عملیاتو کې بې‌ګناه ولس له درنو زیانونو سره مخ شوی او اجباري لادرکۍ بې‌سارې کچې ته رسېدلې دي. دا ډول کړنې پاکستان له خپلو نړیوالو مسؤلیتونو بې‌برخې کوي او په مقابل کې وسله‌والو ډلو ته ولسي ملاتړ او اخلاقي مشروعیت درکوي.

۸ـ نړیوال غبرګونونه او سیمه‌ییزې اغېزې:

ملګرو ملتونو د دغو بریدونو په کلکه غندنه کړې ده، خو پاکستان لا هم په خپلو دودیزو دریځونو کې ټینګ دی او پر هند په دغو پېښو کې د بلوچستان آزادي غوښتونکي پوځ (BLA) د ملاتړ تور پورې کوي، چې هند دغه تورونه په کلکه رد کړي دي. دغه تاوتریخوالي د افغانستان او ایران په پولو هم منفي اغېزې غورځوي او سیمه‌ییزه بې‌ثباتي نوره هم پراخوي. نړیوالې ټولنې پاکستان ته څو ځله خبرداری ورکړی چې د بلوچستان د مسئلې سیاسي حل ولټوي، خو پوځي رژیم تر اوسه د دغو غوښتنو پر ځای په نظامي زور تکیه کړې ده.

۹ـ پایله او راتلونکې احتمالي پېښې:

دا همغږي او پراخ بریدونه د پاکستان د پوځي رژیم بې‌سارې کمزورۍ لکه نظامي، استخباراتي، سیاسي ناکامۍ او د بشري حقونو په سرغړونو کې د هغوی د رول څرګندویي کوي. که چیرې د یوې ریښتینې سیاسي هوکړې لپاره جدي ګامونه پورته نشي، نو د ناامنیو څپه به لا پسې پراخه شي او سیمه به له جدي ګواښونو سره مخامخ کړي. پاکستان اړ دی چې د ولسي ناخوالو او محرومیتونو د پای ته رسولو لپاره عملي او دایمي ګامونه واخلي؛ ځکه نظامي حل یوازې موقتي، کمزورې او ناکامه لاره ده.

لیکوال: رفیق تسل

پاکستان ولې د اسلام د ځپنې هډه بلل کېږي؟

د اسلامي امت د تاریخ په اوږدو کې، لوېدیځو ځواکونو، صلیبي ډلو او په عمومي ډول د اسلام مخالفو قدرتونو تل هڅه کړې چې د اسلام د عزت، پرمختګ او ځواک مخه ونیسي. د دې موخې لپاره یې ډېرې وخت داسې نظامونه او ځواکونه رامنځته کړي چې په ظاهره د اسلام په نوم او بنه ولاړ وي، خو په عمل کې د اسلامي نړۍ د سیاسي، اقتصادي او دیني ودې پر وړاندې اساسي خنډ ګرځي. دا ځواکونه د مالي، پوځي او سیاسي ملاتړ په وسیله ساتل شوي، څو د اسلامي تمـــدن د بیا راژوندي کېدو مخه ونیسي او د مسلمانانو ترمنځ اختلاف او کمزوري خپره کړي. نن د آسیا په زړه کې د پاکستان نومی دولت (پوځي استېبلېشمنټ) هم د همدې تاریخي بهیر یوه کړۍ ګڼل کېږي. کله چې برتانیوي استعمار په اسلامي سیمو کې له ماتې سره مخ شو او دوی اړ شول چې په بېلابېلو وچو کې داسې متحد جوړښتونه رامنځته کړي چې د مسلمانانو د سیاسي خپلواکۍ، اقتصادي ځواک او جهادي روح د بیا راژوندي کېدو مخه ونیسي. د همدې

فکر په پایله کې د پاکستان جغرافیایي نقشه د جبر پر کرښه ودرول شوه، داسې نقشه چې له پیله تر ننه د لوېدیځو او صلیبي قوتونو د مالي او پوځي ملاتړ پر مټ روانه پاتې ده. د دې جوړښت له لارې د اسلامي هېوادونو ترمنځ تاریخي، کلتوري او قبایلي اړیکې وشلېدې او د اسلامي نړۍ طبیعي تسلسل ټوټه ټوټه شو.

دغه جوړښت نه یوازې سیمه کې د اشغالګرو لپاره د تمځای او همکار رول ولوباوه، بلکې د مسلمانانو ترمنځ یې ژور داخلي کړکېچونه هم وزېږول. هغه ولسونه چې پخوا د دین، کلتور او تاریخ له مخې سره نښتي وو، د قومي، جغرافیایي او سیاسي وېش ښکار شول. دا یوازې یو تصور نه، بلکې یو ژوندی حقیقت دی چې تر ننه د پاکستان تر واک لاندې سیمو کې ګڼ مسلمان ولسونه له سیاسي، کلتوري او اسلامي ارزښتونو بې‌برخې کړل شول، په درنو پوړونو کې ښکېل کړل شول او د نورو د ګټو لپاره قرباني شول.

د تاریخ پاڼې دا هر څه د غلامۍ، بلواکۍ او کرایي پوځونو د وحشتناکو بېلګو په توګه ثبتوي. د

حیرانتیا خبره دا ده چې د دې پالیسۍ زیان یوازې د پاکستان، افغانستان او بنګله‌دېش مسلمانانو ته نه دی اوښتی، بلکې د اسلام د لومړۍ قبلې اوسېدونکي هم د همدې سیاستونو قرباني شوي دي. د فلسطین مظلوم ولس، چې لسګونه زره کسان یې په بېلابېلو پړاوونو کې شهیدان شول، تر نن د همدغو نړیوالو لوبو بیه پرې کوي.

له همدې امله، دا پوښتنه پر ځای ده چې تاریخ او اسلامي امت ولې دا حقیقت و نه ویني، چې ځینې رژیمونه که څه هم ځان د اسلام په نوم معرفي کوي، خو په عمل کې د مسلمانانو د وینو تویېدو، د هغوی د کمزورۍ او د اسلامي ارزښتونو د له منځه تلو سبب ګرځي. همدا لامل دی چې د ډېرو په نظر، د پاکستان اوسنی رژیم او جوړښت د اسلام او مسلمانانو د ځینې یوه هڅه بلل کېږي؛ داسې هڅه چې تر کومه یې وس رسي، د اسلام په نوم پوښل شوي مسلمانان به یې له شر او فتنې خوندي نه وي.

پاتې: دفاعي جهاد او د امیر اجازه!

د دلایلو عمومي نتیجه او خلاصه:

له دې ټولو دلایلو څرګندیږي چې د امام اطاعت په هغه صورت کې فرض دی چې هغه د ګناه امر ونه کړي. د فرض عین جهاد په حالت کې، لکه دفاعي جهاد کې، د امیر اجازه شرط نه ده، ځکه حالت اضطراري او د امت د بقا په خاطر دی. که امام د مصلحت له مخې د جهاد مخنیوی وکړي او دښمن برید نه وي کړی، نو مخالفت یې حرام دی؛ خو که دښمن ناڅاپه یرغل وکړي، نو هر مسلمان مکلف دی چې بې له ځنډه دفاع وکړي، او اجازې ته اړتیا نه لري. والله أعلم، وعلمه أتم.

پاتې: د روژې فضایل او مسائل

نیت وکړي، روژه یې صحیح نه ده.

۱۴ـ مسئله: که د روژه‌تي په غاښونو کې څه شی بند پاتې وي او بې اختیاره تر حلق تېر شي، نو که هغه د چڼې په اندازه وي، روژه ماتیږي؛ او که تر چڼې کم وي، روژه نه ماتیږي.

ليکوال: مفتي محمد سعيد

د روژې فضايل او مسائل

بسم الله الرحمن الرحيم. الحمد لله وحده، والصلوة والسلام على من لا نبي بعده!

اما بعد! د رمضان د مبارکې مياشتې روژه د هجرت په دوهم کال، د شعبان په درېيمه، د دوشنبې په ورځ فرض شوه. د دې فرضيت ثبوت د قرآن کريم له آيتونو، د نبوي احاديثو او د امت د اجماع څخه څرګند او قطعي دی. د رمضان مبارکه مياشت د نېکيو پسرلی، د خير او برکت موسم، د امتحان غوره موقع، د مسلم امت د يووالي رمز، د رحمت، مغفرت او نجات ستر فرصت او د تېرو ګناهونو د بښنې زرينه زمانه ده. تر ټولو مهمه دا چې دا د صبر، زغم او استقامت مياشت ده. د نړۍ ټول مسلمانان په دې مياشت کې د روژې مکلف دي او دا الهي حکم د ځمکې پر مخ پر ټولو مؤمنانو متوجه دی.

رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي:

«بُنِيَ الإسلامُ على خمسٍ: شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمدًا رسولُ الله، وإقامِ الصلاة، وإيتاءِ الزكاة، والحجِّ، وصومِ رمضان».

ژباړه: اسلام پر پنځو ستنو ولاړ دی:

۱ـ دا ګواهي ورکول چې له الله تعالی پرته بل د عبادت وړ نشته او محمد ﷺ د الله تعالی رسول دی

۲ـ لمونځ پر خپل صحيح طريقه ادا کول

۳ـ زکات ورکول

۴ـ حج ادا کول

۵ـ د رمضان د مياشتې روژه نيول

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«مَن صامَ رمضانَ إيمانًا واحتسابًا غُفِرَ له ما تقدَّم من ذنبه».

ژباړه: څوک چې د ايمان او د الله تعالی څخه د اجر د تمې په نيت د رمضان روژې ونيسي، د هغه ټول پخواني ګناهونه به وبښل شي.

په بل حديث کې راغلي دي:

«إذا دخل شهرُ رمضان فُتِّحت أبوابُ السماء، وغُلِّقت أبوابُ جهنم، وسُلسِلت الشياطين» (رواه البخاري ومسلم)

ژباړه: کله چې د رمضان مبارکه مياشت راورسيږي، د آسمان دروازې پرانيستل شي، د جهنم دروازې

وتړل شي او شيطانان په ځنځيرونو وتړل شي.

له حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

«إن في الجنة باباً يُقال له الريان، يدخل منه الصائمون يوم القيامة، لا يدخل منه أحد غيرهم؛ فإذا دخلوا أُغلق، فلم يدخل منه أحد»

(رواه البخاري ومسلم)

ژباړه: په جنت کې يوه دروازه ده چې "ريان" نوميږي. د قيامت په ورځ به يوازې روژه لرونکي له همدې دروازې جنت ته ننوځي او بل څوک به ورڅخه داخل نه شي. کله چې روژه لرونکي داخل شي، دا دروازه به وتړل شي او بيا به هېڅوک ترې داخل نه شي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«الصيام جُنَّة» (رواه أحمد)

ژباړه: روژه د انسان لپاره سپر او ډال دی.

د صبر او استقامت هغه ستر درس چې د رمضان له عباداتو څخه ترلاسه کيږي، د کال په نورو وختونو او د اسلام له نورو عباداتو څخه په دې کچه نه شي ترلاسه کېدای. له همدې امله رسول اکرم ﷺ د دې مياشتې له ځانګړنو څخه يوه دا ښوولې ده:

«هو شهرُ الصبر، والصبرُ ثوابُه الجنة»

يعنې دا د صبر مياشت ده او د صبر بدله جنت دی.

له خوراک، څښاک او نفساني غوښتنو څخه ډېره کول صبر غواړي؛ د شپې عبادت، قيام، تلاوت او ختم زغم او استقامت غواړي؛ له ناروا خبرو او کړنو څخه ځان ساتل صبر ته اړتيا لري. نو بې له شکه دا مياشت په بشپړه معنا د صبر او زغم مياشت ده. صبر د مؤمن د لارې توښه، د ژوند د ستونزو پر وړاندې د بريا وسيله، د الله تعالی د رضا د ترلاسه کولو لاره او جنت ته د داخلېدو سبب دی. ځکه خو رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«والصبر ثوابه الجنة»

د صبر بدله جنت دی. د الله تعالی د کلمې د لوړولو مبارزه اسانه لاره نه ده؛ دا لاره له کړاوونو، لوږې، تندې، د راحت پرېښودلو، مالي زيانونو، بې‌کورۍ، بند او زندان، او آن تر سرښندنې پورې له سختيو ډکه ده. دا ټول کارونه يوازې صابر خلک ترسره کولای شي.

د رمضان مبارکه مياشت د صبر او زغم د تمرين او روزنې غوره فرصت دی. هغه برياوې چې د همدې مياشتې په برکت مجاهدينو ته په برخه شوي، په نورو وختونو کې يې سارى نه ليدل کيږي.

د اسلامي فتوحاتو په تاریخ کې د بدر غزا او د مکې فتحه ځانګړی مقام لري، او دا دواړه تاریخي پېښې د رمضان په مبارکه میاشت کې رامنځته شوې دي. د بدرستره غزا د رمضان په اوولسمه نېټه او مکې مکرمې ته د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین فاتحانه ننوتل د رمضان په لسمه نېټه ترسره شوي دي.

حضرت رسول اکرم ﷺ د دې مبارکې میاشتې له ځانګړنو څخه یوه دا هم یاده کړې ده چې دا

«شهرُ المواساة»

یعنې د همدردۍ، خواخوږۍ او مرستې میاشت ده. که څوک د زیاتې مرستې وس ونه لري، نو لږ تر لږه دې یو روژه‌تي ته د روژه‌ماتي لپاره یو غړپ شیدې، یوه دانه خرما یا یو غړپ اوبه ورکړي؛ ځکه په همدې لږ کار هم هغه ستر اجر او ثواب ترلاسه کېږي چې رسول الله ﷺ یې زیری ورکړی دی.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

«مَن فطَّرَ فيه صائمًا كان له مغفرةٌ لذنوبه وعتقُ رقبته من النار»

یعنې څوک چې په دې میاشت کې یو روژه‌تي ته روژه‌ماتی ورکړي، د هغه ګناهونه به وبښل شي او له دوزخ څخه به خلاصون ومومي.

د حدیث راوي وایي: موږ عرض وکړ: اې د الله رسوله! موږ ټول دومره وس نه لرو چې روژه‌تي ته پوره روژه‌ماتی برابر کړو. رسول الله ﷺ وفرمایل:

«يُعطي الله هذا الثوابَ مَن فطَّر صائمًا على مذقةِ لبنٍ أو تمرةٍ أو شربةِ ماء»

یعنې الله تعالی همدغه بشپړ اجر هغه چاته هم ورکوي چې یو روژه‌تي ته یوازې یو غړپ شیدې، یوه دانه خرما یا یو ګوټ اوبه ورکړي.

په دې مبارکه میاشت کې روژه‌تیان د فرضي عبادتونو تر څنګ د نفلي عبادتونو ترسره کولو ته هم ځانګړې پاملرنه کوي؛ ځکه رسول اکرم ﷺ د دې میاشتې یو بل امتیاز داسې بیان کړی دی:

«مَن تقرَّب فيه بخصلةٍ من الخير كان كمن أدَّى فريضةً فيما سواه، ومَن أدَّى فيه فريضةً كان كمن أدَّى سبعين فريضةً فيما سواه»

یعنې څوک چې په دې میاشت کې د یوې نېکۍ په وسیله د الله تعالی قرب غواړي، هغه داسې دی لکه په نورو وختونو کې چې یې یو فرض ادا کړی وي؛ او څوک چې په دې میاشت کې یو فرض ادا کړي، هغه داسې دی لکه په نورو وختونو کې چې یې اویا فرضونه ادا کړي وي.

رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي:

«للصائم فرحتان يفرحهما: إذا أفطر فرح، وإذا لقي ربَّه فرح بصومه»

ژباړه: د روژه‌نیونکي لپاره دوه خوښۍ دي؛ یوه هغه وخت چې روژه ماته کړي نو خوشحال شي، او بله هغه وخت چې د خپل رب حضور ته ودرېږي، نو د خپلې روژې په بدله به خوشحال وي.

روژه د الله تعالی په قانون کې له ټولو عبادتونو ځانګړی عبادت دی. په حدیث قدسي کې راغلي چې رسول الله ﷺ فرمايي:

«قال الله عزوجل: كلُّ عملِ ابنِ آدم له إلا الصوم، فإنه لي وأنا أجزي به»

د نورو عبادتونو ثواب د فرښتو په وسیله تر اووه سوه چنده پورې زیاتېږي؛ خو روژه داسې عبادت دی چې الله تعالی یې بدله په خپله ورکوي. نو د روژه‌تیانو لپاره تر دې بله ستره خوښي څه کېدای شي چې پروردګار عالم پخپله د هغوی د روژې اجر ورکوي؟

روژه‌تیان په دې میاشت کې د کال د نورو میاشتو په پرتله زیات د خپل رب په ذکر او یاد بوخت وي. د سهار له سپېدو تر ماښامه پورې که وږي کېږي، څه نه خوري؛ ځکه د الله حکم یې په یاد وي. که تږي کېږي، څه نه څښي؛ ځکه د الله حکم یې په یاد وي. له نفساني غوښتنو څخه ډډه کوي؛ ځکه د الله حکم یې په یاد وي. د دوی پرهېز یوازې په ښکاره نه وي، بلکې په پټه هم وي. په هر حال کې خپل رب حاضر او ناظر ګڼي. نه یوازې له خوراک، څښاک او خواهشاتو څخه ځان ساتي، بلکې له هر ډول ګناه او معصیت څخه هم ډډه کوي.

روژه‌تي دروغ نه وايي، غیبت نه کوي، بهتان نه تړي، حرام کاروبار او ناروا تجارت نه کوي، په لاس او ژبه څوک نه ازاروي، د چا سپکاوی او توهین نه کوي، د چا حق نه خوري او پر چا ظلم نه کوي؛ ځکه په حقیقت کې هغه له دغو ټولو بدیو څخه روژه وي.

هغه د رسول الله ﷺ دا فرمان په یاد لري:

«مَن لم يَدَعْ قولَ الزور والعملَ به فليس لله حاجةٌ في أن يَدَعَ طعامه وشرابه»

یعنې څوک چې دروغ ویل او پر دروغو عمل پرې نه ږدي، الله تعالی د هغه تشې لوږې او تندې ته اړتیا نه لري.

روژه‌تي د خیر او نېکۍ لارې لټوي، د تراویحو لمونځ ادا کوي، د قرآن کریم تلاوت او ختم کوي، او د خپلې لوږې او تندې په احساسولو سره د خپلو غریبو او بېوزلو وروڼو د ستونزو درک کوي او له هغوی سره مالي مرسته کوي. د روژې مبارکه میاشت هغه ستر فرصت دی چې نېک

خلک ورته تیاری نیسي او دینداره خلک یې په مینه انتظار باسي. دا میاشت د ګناهونو د ببښنې، د جنت د ګټلو او د دوزخ له عذابه د نجات موسم دی. دا د ګوتو په شمېر څو ورځې دي؛ څوک چې ترې ګټه واخلي، ځان به د ابدي بریا مستحق کړي، او څوک چې یې په لهو، لعب او غفلت کې تېرې کړي، نو په تاوان او خسران کې به واقع شي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

«رَغِمَ أنفُ رجلٍ ذُكرتُ عنده فلم يُصلِّ عليَّ، ورَغِمَ أنفُ رجلٍ دخل عليه رمضان ثم انسلخ قبل أن يُغفر له، ورَغِمَ أنفُ رجلٍ أدركَ أبواه الكِبَرَ فلم يُدخلاه الجنة»

ژباړه: هغه کس دې ذلیل شي چې زما نوم یې واورېدل شو او پر ما یې درود ونه ویلو؛ هغه کس دې ذلیل شي چې رمضان میاشت پرې راغله او لاړه، خو ګناهونه یې پکې ونه ببښل شول؛ او هغه کس دې ذلیل شي چې مور او پلار یې سپین‌ږیري شي او دی د هغوی په خدمت کولو جنت ته داخل نه شي. د روژې میاشت په حقیقت کې د مؤمن د روح او نفس د روزنې لپاره یوه آسماني نسخه ده؛ داسې نسخه چې انسان د کامل ایمان او تقوا پر لور بیایي او د ولایت درجې ته یې رسوي.

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي:

اَلَآ اِنَّ اَوۡلِیَآءَ اللّٰهِ لَا خَوۡفٌ عَلَیۡهِمۡ وَلَا هُمۡ یَحۡزَنُوۡنَ (یونس ۶۲)

ژباړه: واورئ! بې‌شکه د الله دوستان هغه کسان دي چې نه به پرې وېره وي او نه به غمجن وي؛ هغوی هغه خلک دي چې ایمان یې راوړی او تقوا کوي.

له دې مبارک آیت څخه څرګندېږي چې د الله ولي او دوست هغه څوک دی چې دوه ځانګړنې ولري:

۱- ایمان

۲- تقوا

ګویا د کاملې تقوا بل نوم ولایت دی.

اوس دې بل آیت ته پام وکړو:

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا كُتِبَ عَلَیۡكُمُ الصِّیَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَی الَّذِیۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُوۡنَ (البقرة ۱۸۳)

ژباړه: اې مؤمنانو! پر تاسو روژه فرض شوې ده، لکه څنګه چې له تاسو نه پر مخکینیو امتونو فرض شوې وه، څو تاسو تقوا ترلاسه کړئ.

په دې آیت کې روژه د تقوا د لاسته راوړلو وسیله بلل شوې ده. کله چې دواړه آیتونه سره یوځای کړو، څرګنده نتیجه دا ده چې روژه د الله تعالی د دوستۍ او ولایت ترلاسه کولو مهمه وسیله ده.

الله تعالی په بل ځای کې فرمایي:

«شَهۡرُ رَمَضَانَ الَّذِیۡۤ اُنۡزِلَ فِیۡهِ الۡقُرۡاٰنُ هُدًی لِّلنَّاسِ

وَبَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُ (البقرة ۱۸۵)

ژباړه: د رمضان میاشت هغه میاشت ده چې په هغې کې قرآن کریم نازل شوی، چې د خلکو لپاره هدایت او ښکاره دلایل دي، څو حق او باطل سره بېل کړي. نو له تاسو څخه چې څوک دا میاشت ووینې، باید روژه یې ونیسي.

الله تعالی حکیم ذات دی، او د هغه هېڅ حکم له حکمت څخه خالي نه وي. د رمضان د روژې په فرضیت کې هم ګڼ حکمتونه، لوړ مقاصد او ښې پایلې نغښتې دي، چې ځینې یې دا دي:

۱ـ د اخلاص او تقوا روزنه

روژه په زړه کې اخلاص او تقوا پیدا کوي؛ ځکه روژه‌نیونکی یوازې د الله تعالی د رضا او د آخرت د توښې لپاره روژه نیسي. همدا وجه ده چې د روژې د فرضیت آیت په دې جمله پای ته رسېږي:

«لعلکم تتقون»

ښایي تاسو تقوا ترلاسه کړئ.

۲ـ د روح تغذیه او د زړه پاکوالی

روژه روح ته غذا ورکوي، نفس ته استقامت وربخښي او د زړه په صفا کولو کې مرسته کوي.

۳ـ د ارادې پیاوړتیا

روژه په انسان کې د ارادې ځواک، د هوډ ړښتینولي او د نفس د ناوړه عادتونو د له منځه وړلو وړتیا پیاوړې کوي. د صبر په وسیله انسان د سختیو ګاللو ته چمتو کوي او عقل پر شهوتونو غالبوي، څو د شر پر ځای د خیر لور ته متوجه شي.

۴ـ د ټولنیز احساس روزنه

انسان عموماً د نعمت قدر هغه وخت پېژني چې ترې بې‌برخې شي. روژه‌نیونکی چې د لوږې او تندې سختي ويني، د بېوزلو او نادارو خلکو له حاله خبرېږي او د هغوی لاسنیوي ته هڅېږي.

۵ـ له ملائکو سره مشابهت

روژه‌نیول انسان د روحاني مخلوق، یعنې ملائکو، له حالت سره ورته کوي؛ ځکه پرښتې له شهوتونو پاکې دي. نو مسلمان ته ښايي چې د روژې په حالت کې خپل وخت په ذکر، تسبیح، تلاوت او دعا تېر کړي، نه دا چې یوازې د خوړو په فکر کې وي.

۶ـ د امانتدارۍ او د الله د څارنې احساس

روژه انسان ته دا درس ورکوي چې الله تعالی هر وخت حاضر او ناظر دی. روژه‌نیونکی کولای شي په پټه خوراک او څښاک وکړي، خو نه یې کوي؛ ځکه یوازې له الله وېرېږي.

۷ـ نظم او یووالی

روژه انسان ته نظم او انضباط ورزده کوي. نفس په بېلابېلو وختونو کې د خوراک غوښتنه کوي، خو روژه یې محدودوي. همدارنګه دا عبادت د

نړۍ د مسلمانانو ترمنځ يووالی رامنځته کوي؛ ټول په يو وخت روژه نيسي او په يو وخت يې ماتوي، ځکه رب يې يو او عبادت يې يو دی.

۸ـ له نفس سره جهاد

روژه له نفس سره جهاد دی او د ګناهونو له ککړتيا څخه د پاکوالي غوره وسيله ده. دا د شهوتونو د ماتولو او د نفس د اصلاح غوره لار ده.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«يا معشرَ الشباب! مَن استطاعَ منكم الباءةَ فليتزوَّج، فإنه أغضُّ للبصرِ وأحصنُ للفرج، ومَن لم يستطع فعليه بالصوم فإنه له وِجاء»

ژباړه: اې د ځوانانو ډلې! له تاسو څخه چې څوک د نکاح وس لري، واده دې وکړي؛ ځکه دا د سترګو لپاره ټيټوالی او د عفت ساتنه ده. او څوک چې وس نه لري، هغه دې روژه ونيسي؛ ځکه روژه د هغه لپاره د شهوت ماتولو وسيله ده.

نو روژه يوازې د لوږې او تندې نوم نه دی، بلکې د نفس تزکيه، د روح صفا، د تقوا لاسته راوړل او د الله تعالی د قرب ستره وسيله ده. څوک چې دا مياشت په اخلاص، تقوا او عبادت تېره کړي، هغه به د ولايت، مغفرت او ابدي بريا مستحق وګرځي.

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د درېو کسانو دعا نه ردېږي: عادل پاچا، روژه نيونکی ترڅو چې روژه ماته کړي، او مظلوم.

د روژې ځينې مهمې مسايل:

۱ـ مسئله: که يو کس دايمي ناروغ وي او د روغتيا هيڅ اميد ونه لري، نو داسې کس به د شيخ فاني په څير فديه ورکوي. لکه څنګه چې په «ما فی الشامية» کې راغلي:

"الذي كل يوم في نقص إلى أن يموت"

همدارنګه د قهستاني او کرماني روايتونه وايي، چې که ناروغ په دې پوه شي چې د روغتيا هيڅ امکان نشته، نو د هر ورځې لپاره يې فديه واجبه ده. همدارنګه په «البحر» کې راغلي چې که څوک د ژوند د اړتياوو له امله روژه نه شي نيولی، نو فديه ورکول واجب دي. (احسن الفتاوی، ج۴، ص۱٦)

۲ـ مسئله: په انجکشن يا ستنې سره د دوا ورکول روژه نه ماتوي، ځکه روژه يوازې د هغو شيانو له امله فاسدېږي چې د بدن د کوم طبيعی منفذ له لارې معدې يا مغزو ته داخلېږي. د انجکشن له لارې دوا د رګونو او مساماتو له لارې بدن ته داخلېږي، نه معدې ته، نو روژه پرې نه ماتېږي. (فتاوی عالمګيري، ج۱، ص۲۰۳)

۳ـ مسئله: که يو کس په داسې سيمه کې سفر کوي چې لمر هلته درې نيمې بجې راخېژي او دولس بجې ډوبېږي، او شپه يوازې درې يا درې

نیمې ساعته پاتې شي، پاتې وخت ټول ورځ دی، نو په دې شرایطو کې هم د روژې نیول واجب دي. ځکه د ۲۴ ساعتونو په دننه کې یو ځل ډوډۍ خوړل کافي دي او په روژه نیولو کې ګناه نه ده. البته د لمر ډوبېدو متصل د روژې ختمولو وخت دی او د لمر راختل یو نیم ساعت مخکې د روژې پای ټاکي. (فتاوی فریدیه، ج۴، ص۹۸)

۴ـ مسئله: که څوک د رمضان د میاشتې د راتلو پر مهال ووایي: "ډېره درنه میاشت راغله"، یا: "ښه درونډ باروالا مله راغی"، نو په دې صورت کې هم کافر نه ګڼل کېږي، که هدف یې یوازې د ځان ستړیا او د نفس بار څرګندول وي. خو که دا خبره د رمضان د سپکاوي یا اهانت لپاره وي، نو کافر بلل کېږي. (فتاوی التاتارخانیة، ج۵، ص۳۳۸؛ بحرالرائق، ج۵، ص۱۲۲)

۵ـ مسئله: که څوک په سختي ووایي: "دادومره روژې به چې زه یې په آخر کې ونه زغمي؟ زما زړه ترینه ستړی دی"، نو دا وینا کفري ګڼل کېږي. (فتاوی عالمګیري، ج۲، ص۲۷؛ جامع الفصولین، ج۲، ص۲۲۳)

٦ـ مسئله: په روژه کې د غاښ ایستل یا د دوا استعمال د سخت ضرورت په وخت کې جائز دي او بې له اړتیا نه مکروه دي. که دوا یا وینه نس یا ګېډې ته داخله شي او د خولې سره مساوي یا زیات شي، نو روژه ماتیږي. (ردالمحتار، ج۲، ص۱۰۷)

۷ـ مسئله: په روژه کې د ستنې په ذریعه د وینې ایستل مفسدنه دي، خو که د بدن کمزوري له امله د روژې د نیولو طاقت پاتې نه شي، نو بیا مکروه بلل کېږي. (احسن الفتاوی، ج۴، ص۲۰)

۸ـ مسئله: که څوک په سترګو کې دوا واچوي او اثر یې په ستوني یا حلق کې ښکاره شي، روژه پرې نه ماتیږي. (ردالمحتار، ج۲، ص۱۰٦)

۹ـ مسئله: د فرضي روزې د نیولو لپاره درې شرطونه دي: اسلام، عقل، او بلوغ. یعنې په مسلمان، بالغ او عاقل باندې د رمضان روژه فرض ده.

۱۰ـ مسئله: د روژې نیول یوازې په صحي او مقیم انسان واجب دي. په ناروغ یا مسافر باندې روزه نیول واجب نه دي، خو که یې ونیوله نو غوره ده.

۱۱ـ مسئله: د رمضان شریف، نذرِ معین او نفلي روژو لپاره د شپې له وخته نیت کول غوره دي. که له زوال نه مخکې نیت وشي، روژه صحیح ګڼل کېږي، خو شرط دا دی چې نیت به د سبا له پیل څخه وي.

۱۲ـ مسئله: د کفارې، قضایي او نذرِ غیر معین روژو لپاره د شپې له وخته نیت کول شرط دي. که د شپې له مخې نیت ونه شي او له سهاره وروسته

(پاتې پر ۳۷ مخ...)

ليکوال: مولوي عزت الله خالد

استشهادي مجاهد قاري صبغت الله (محمد) تقبله الله

شهيد قاري صبغت الله (تقبله الله) چې د پشين ولايت د گلستان ولسوالۍ له غيورې خاورې څخه راپورته شوی و، نه يوازې يو زړور او توريالی مجاهد و، بلکې د اسلام د لارې د سپېڅلو استشهادي مجاهدينو يو مدبر او تجربه کار لارښود او رهبر هم و. نوموړی د کتاب الله (قرآن کريم) په مينه سمبال، يو خوش الحانه او تکړه قاري و، چې غږ به يې د استشهادي مجاهدينو روح ته سکون ببښه.

نوموړي د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د استشهاد عملياتو او فدايي بريدونو د رهبرۍ دروند مسؤليت په پوره مېړانې سره ترسره کړ. د نوموړي تر رهبرۍ لاندې د بلوچستان په "مسلم باغ" او "ژوب" پوځي اډو باندې ترسره شوي عمليات، د نوموړي (تقبله الله) د نظامي بصيرت او بريالۍ ستراتيژۍ ژوندۍ بېلگې دي. قاري محمد د تنظيمي چارو د سمون او اهدافو د تعقيب لپاره څو ځله د کراچۍ په څېر ستونزمنو ښارونو ته هم جهادي سفرونه وکړل او هلته يې د رهبرانو يو پياوړی او منظم گروپ فعال کړ. نوموړی د تحريک طالبان پاکستان د "اسپيشل استشهادي فورس" په اداره کې د محترم مولوي مخلص (حفظه الله) تر سيوري لاندې د کلونو کلونو لپاره د انتظار ترخې شېبې په پوره استقامت سره تېرې کړې.

د شهيد قاري صبغت الله په شخصيت کې د مېړانې او عاجزۍ يو عجيبه امتزاج و. پر مخ به يې تل د يو ژور فکر او معنوي درد نښې له ورايه ښکارېدې. د ملگرو هجران او د رب العالمين د ليدو تلوسې په ده کې يو ډول سپېڅلې معصوميت پيدا کړی و؛ په وړه خبره به يې زړه دردېدی او ښېرته به ډېر ژر په لويه سينه راضي کېدو، چې دا د ده د نرم او رقيق زړه نښه وه. کله به يې چې د دعا لپاره خپلې لپې د الله (جل جلاله) دربار ته پورته کړې، نو سملاسي به يې پر رخسار د اوښکو لړۍ روانه شوه. نوموړی د ټول امت په درد درمند و او کله به يې چې د زړه درد چا ته بياناوه، نو د مخاطب په زړه کې به يې هم د امت د غمجنو حالاتو لمبې بلولې.

استشهادي مجاهد قاري صبغت الله محمد (تقبله الله) هغه مجاهد و چې په ټنونو بارودو کې يې د جنت د حورو په لور د تگ نيت کړی و، د ډېرو

لوړو اخلاقو څښتن و. په عبادت کې عاجزي، په دعاګانو کې زارۍ او د شپې په تنهایۍ کې د رب په وړاندې ژړا د ده د ژوند ځانګړي اوصاف وو. الله تعالی هغه په ځانګړو معنوي نښو او مبشراتو نازولی و؛ د عملیاتو څخه څو ورځې وړاندې، کله چې نوموړی په اعتکاف ناست و، په خوب کې ورته د عملیاتو ځای او نور جزییات ښودل شوي وو. همدا لامل و چې ده به په پوره ډاډ سره ویل: "دا ځل به عملیات حتمي او بریالي وي."

که څه هم نوموړی تر دې وړاندې هم څو ځله عملیاتو ته تللی و، خو د ځینو تخنیکي او ظاهري لاملونو له امله به عملیات نه ترسره کېدل، چې له امله به یې قاري صبغت الله (رحمه الله) ډېر غمجن او خفه ښکارېدو. خو په پای کې، د رب د لقاء دغه سترې عاشق خپلې عظیمې تمنا ته ورسېد. نوموړي د بلوچستان د مرکز کوټې په ښار کې د "ایف سي " اجیرو عسکرو پر یوې مهمې قرارګاه (مرکزي قومندانۍ) باندې د موټربم بریالی برید ترسره کړ او خپل تن یې د خپل معبود په وړاندې ټوټه ټوټه کړ .نحسبه کذلک والله حسیبه

له حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر هغه څوک چې د دواړو اخترونو (کوچني او لوی اختر) شپې د ثواب په نیت او د الله د رضا لپاره په عبادت کې تېرې کړي، د هغه زړه به په هغه ورځ (د قیامت په سخته ورځ) نه مړ کېږي، په کومه ورځ چې د نورو خلکو زړونه مړه کېږي.

(رواه ابن ماجه)

لیکوال: خالد احرار

یوه مسکا؛ د تلپاتې سهار په لور

هغه یو تاند او تنکی ځوان و؛ د پسرلي د غوړېدلي گل په څېر تازه او د ژوند له هیلو ډک. د هغه په هره خبره او هر گام کې د امیدونو رڼا ځلېده. سترگو یې د سباون په افق کې د سوکالۍ خوبونه لیدل، زړه یې د مور د مهرباني غېږې تودوخې ته تږی و او خندا یې د کور په انگړ کې د سپېڅلو گلابو په څېر عطر شیندل.

خو یوه شپه، کله چې د هغه غوږونو ته د قرآن کریم د سپېڅلو آیتونو انگازې ورسېدې، نو په زړه کې یې د ایمان داسې لمبه بله شوه چې د نړۍ هر رنگ یې ورته تت کړ. هغه د خپل خالق دا الهي مینه ناک پیغام په رگ رگ کې جذب کړ چې فرمایلي یې دي: «بېشکه الله له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او مالونه په دې بیه اخیستي دي چې د هغوی لپاره به جنت وي.» همدا شېبه وه چې هغه له خپل رب سره د عشق تړون وکړ؛ خپله ځواني، خپل وجود او خپلې ټولې هیلې یې د حق د لارې نذرانه کړې.

هغه په دې پوهېده چې دا لاره د ورېښمو نه، بلکې د ازغیو، سرو وینو او بې ساري قربانیو لاره ده، خو د زړه له تله یې نارې وهلې: «ای زما پالونکیه! زه ستا بنده یم، زما ژوند ستا لپاره دی او مرگ مې هم ستا د رضا په تله کې غواړم.»

مور به یې هر سهار د لمانځه لپاره په مینه راویښاوه، په غېږ کې به یې نیوه او ورته ویل به یې: «زما خوږه زویه! ستا دا تنکۍ ځواني دې د جنت په لاره کې تېره شي، نه د فاني نړۍ په بې ارزښته خوبونو کې.» پلار به یې هم په ویاړلي نظر ورکتل او په ډاډه زړه به یې ویل: «دا زوی به مې ان شاء الله د الله د مبارک دین ربتیني ساتونکی وي.»

کله چې د حق او باطل معرکه گرمه شوه او د برخلیک ټاکلو شېبه راغله، هغه خپل نازک وجود د باروتو او اور په وړاندې سپر کړ. په داسې حال کې چې شونډو یې د تکبیر نعرې وهلې، د دښمن په زړه کې یې داسې برید وکړ چې د کفر ماڼۍ یې ولړزولې. د هغه هر گام د خپل رب سره د کړې ژمنې د پوره کولو په لور و. هغه په دې باور و چې که بدن یې ټوټې ټوټې هم شي، خو روح به یې د خپل رب په دربار کې د ابدي ژوند په نعمتونو ونازول شي.

په وروستیو شېبو کې، کله چې یې پاکه وینه د خپلې خاورې په غېږ کې تویېده، د هغه پر شونډو یوه خوږه او د نصرت مسکا خپره وه. هغه په وروستي ساه کې داسې وویل: «الهي! دا زما تنکۍ ځواني وه چې ستا په لاره کې مې نذرانه کړه، دا زما بدن و چې ستا د رضا لپاره مې ټوټې ټوټې کړ؛ اوس مې روح ته د خپلې لقا په شرف ښښنه وکړه.»
هغه لاړ، خو یادونه یې د تاریخ په پاڼو کې ابدي شول. هغه په هر هغه کور کې ژوندی دی چې یو مجاهد زوی پکې د شهادت لوړ مقام ته رسېدلی وي. هغه د هرې هغې مور په زړه کې ژوندی دی چې د خپل زړه ټوټې د وینې په بدل کې د جنت تمه لري.
ای تنکي مجاهده!
ستا بې سارې قرباني به د تاریخ په تندي تل ځلیږي. ستا پاکه وینه د اسلام د شجرې لپاره هغه اوبه دي چې تر قیامته به یې زرغونه ساتي. ستا ځواني اوس د جنت په باغونو کې د داسې ګلانو په څېر ده چې هېڅکله نه مړاوي کیږي.
الله (ج) دې ستا د وینې هر څاڅکی د امت د سرلوړۍ لامل وګرځوي، ستا کورنۍ ته دې جمیل صبر او په جنت الماوی کې دې ستاسو سره د یوځای کېدو ارمان پوره کړي. آمین یا رب العالمین!

اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُونَ...
او دا څومره لویه بریا ده، چې یو بنده د خپل خالق په لاره کې د خپل ژوند تر ټولو قیمتي شتمني قرباني کړي!

له حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر هغه څوک چې پنځه شپې (په عبادت، ذکر او د الله په یاد) ژوندۍ وساتي، د هغه لپاره جنت واجب شو؛ هغه شپې دا دي: د ترویه شپه (د ذوالحجې د اتمې نېټې شپه)، د عرفې شپه (د ذوالحجې د نهمې نېټې شپه)، د نوي اختر (لوی اختر) شپه، د کوچني اختر شپه او د شعبان د میاشتې د نیمایي شپه (برات شپه).
(الترغیب والترهیب)

ليکوال: عزيزالدين مصنف

له شرقي ترکستانه

لا د عمر بن عبدالعزيز رحمه‌الله د خلافت دوره نه وه پيل شوې چې د اسلام نامتو سپه‌سالار، قتيبه بن مسلم باهلي رحمه‌الله، د خراسان له شماله تر د چين تر زړه پورې خپلې لښکرې ورسولې. د هغه وخت د چين پاچا د زرګونو پوځونو په ليږلو سره هڅه وکړه چې قتيبه رحمه‌الله وځپي، خو دې ستر اسلامي سپه‌سالار د خپل فولادي عزم او پوځي تدبير په مټ هغوی ته داسې ماته ورکړه چې تاريخ يې تر اوسه د شرم نښه بولي.

هماغه مهال و چې شرقي ترکستان د ځمکې پر مخ د يوه سپېڅلي قيادت او تمدني مرکز په توګه وځلېد؛ هغه ترکستان چې د اوږدو کلونو لپاره د اسلامي تمدنونو له مهمو مرکزونو څخه شمېرل کېده. همدا خاوره چې د قتيبه بن مسلم رحمه‌الله په لاس فتحه شوې وه، نن د چين د کمونست ګوند تر بشپړ انحصار لاندې راوستل شوې ده.

د دې سيمې زمري‌صفته اتلان، يو شمېر د چين په زندانونو کې ورکېدل، او يو شمېر نور د سختو شرايطو له امله نورو هېوادونو ته په هجرت کولو اړ شول. د دې مسلمان ملت د هويت او نسل د له منځه وړلو لپاره د چين حکومت خپل ټول توان کارولی دی. هلته پر اسلامي شعايرو سخت بنديزونه لګېدلي؛ په ښکاره لمونځ کول جرم ګڼل کېږي، ځوانانو ته جوماتونو ته د تګ اجازه نه ورکول کېږي، او مسلمانې ښځې نه شي کولی چې په ښارونو کې حجاب واغوندي. آن تر دې چې په ځينو کورونو کې د څار لپاره کسان ګمارل شوي، څو د ښځو د حجاب مخه ونيسي.

سره له دې چې چين په اقتصادي لحاظ د پرمختګ دعوه کوي، د شرقي ترکستان مسلمانان د سختې بېوزلۍ ژوند تېروي. د ژوند اسانتياوې ورته محدودې دي؛ نه په آزاد بازار کې د کار حق لري، نه د سوداګرۍ اجازه، او نه هم د عادي اقتصادي فعاليت زمينه. ډېر يې د کرنې له لارې، هغه هم په سختو شرايطو کې، خپلې لومړنۍ اړتياوې پوره کوي.

همدا شرقي ترکستان دی چې نن د چين د يوه ايالت په نوم يادېږي، خو د تاريخ، عقيدې او قربانيو کيسه يې له دې نومه ډېره ژوره ده.

اې ځوانانو! که د انسان همت لوړ وي او د الله

جل جلاله پر نصرت باور ولري، نو تاريخ ښيي چې ملتونه د سختو حالاتو پر وړاندې درېدلای شي. موږ د هغه پیغمبر ﷺ امت یو چې سیرت یې د صبر، قربانۍ، مبارزې او استقامت له بېلګو ډک دی.

په تاریخ کې کله نا کله داسې سوځنده فریادونه پورته کېږي چې د اورېدو تاب ترې انسانه اخیستل کېږي. نن هم د امت ډېرې لوڼې او میندې د ظلم او جبر په زندانونو کې سختې شپې او ورځې تېروي. دلته د یوې مؤمنې پېغلې هغه فریاد رااخلو چې د زندان له دېوالونو او دریڅو یې تر موږ رسېدلی دی:

اې د اسلامي امت ځوانانو!

زه هم د یوې مؤمنې مور او یوه مؤمن پلار لور یم. له سر څخه مې پړونی نه و لوېدلی، لا ماشومه وم چې د کور له دروازې مې پښه بهر نه وه ایښې. پلار به مې د صحابه‌وو د اتلولۍ کیسې کولې، د هغه غیرتي پیغمبر ﷺ داستانونه به یې راته بیانول چې په خپله به یې د حق په میدان کې له خپلو ملګرو سره درېده. د محمد بن قاسم هغه کیسه به یې هم راته لوستله چې د یوې مظلومې خور د فریاد لپاره یې تاریخ بدل کړ.

زه لا ډېره کوچنۍ وم چې کمونستانو زما ورونه زما د سترګو پر وړاندې شهیدان کړل. پر بوډۍ مور او سپینږیري پلار مې داسې ظلمونه وشول چې که د ځنګله ځناورو ته یې هم ووایې، هغوی به پرې لعنت ووايي.

دومره زولنې مو پر لاسونو پرتې دي چې د لاسونو او پښو هډوکي مو یې ستړي کړي دي.

آیا تاسو فکر کړی، که ستاسو خپله خور د پردیو لاس ته ولوېږي، آیا وجدان به مو ارام پرېږدي؟

آیا د شپې له په سکون ویده شئ؟

آیا د خلکو په منځ کې له په لوړ سر وګرځئ؟

زه پر هغو کیسو شرمیږم چې پر ما تېرېږي. زه یوه پاکه او معصومه پېغله وم، خو نن لس کاله کېږي چې د زندان په تیارو کې ژوند کووم. داسې شپه نه ده راغلې چې سترګې مې له اوښکو خوندي پاتې شوې وي.

که پر خپلو خویندو غیرت نه لرئ، نو د غیرت نوم مه اخلئ. که د مظلوم د درد احساس نه کوئ، نو د امت د دعوې بار مه اوچتوئ.

إنا لله وإنا إليه راجعون

UMAR MEDIA

د تحریک طالبان پاکستان د ۲۰۲۶م کال د جنورۍ (د ۱۴۴۷ هـ ق کال د رجب المرجب) میاشتې د ترسره شوو فعالیتونو بشپړ تفصیلي راپور

245 ټولټال عملیات



د عملیاتو ځایونه

جنوبي وزیرستان ولایت	56
شمالي وزیرستان ولایت	39
ټانک ولایت	33
بنو ولایت	26
ډیره اسماعیل خان ولایت	18
خیبر ولایت	15
باجوړ ولایت	14
لکي مروت ولایت	14
پېښور ولایت	12
کوېټې ولایت	05
کرم ولایت	04
کوهاټ ولایت	03
مومندو ولایت	03
جنوبي پنجاب ولایت	02
مکران ولایت	01

د دښمن ځاني تلفات

ټول وژل شوي او ټپیان	وژل شوي	ټپیـــان	نیول شوي
711	350	361	17

زیانمنې شوې ادارې

پـــوځ	ایف سي	پولیـــس	استخبارات،امن کمیټو غړي
436	150	102	40

د عملیاتو ډولونه

درازکوف او لېزري بریدونه	66
چریکي بریدونه	31
کمیني بریدونه	27
لاسي بمونه او چاودني	20
تعرضي بریدونه	41
هدفي بریدونه	28
ځوابي بریدونه	18
توغندیز بریدونه	14

تخریب

د امنیتي کامرې	34
پوځي موټرونه، لارۍ	16
د اوبو، انرژۍ سیستمونه	05
د پولیسو/پوځ ودانۍ	21
وای فای سستم	01
کواډکاپټر ډرونونه	02
اېکسکېوېټر ماشینري	01
د زغروال موټر/ټانګونه	02

له دښمن څخه ترلاسه شوي وسایل

بېلابېل ټوپکونه	11
بېلابېل موټرونه	04
لاسي بمونه	02

او همداراز پوځي کلاوو ته انتقالېدونکي بېلابېل تجهیزات، نظامي وسایل، خوراکي توکي، د ثقیلي بکسه، زرګونه مرمۍ، لسګونه شاجورونه، چاودېدونکي توکي، نقدي پیسې او نور نظامي وسایل.

UMAR MEDIA

د تحریک طالبان پاکستان د ۲۰۲۶م کال د فبرورۍ (د ۱۴۴۷ هـ ق کال د شعبان - رمضان) میاشتې د ترسره شوو فعالیتونو بشپړ تفصیلي راپور

352 ټولټال عملیات



د عملیاتو ځایونه



جنوبي وزیرستان ولایت	85
شمالي وزیرستان ولایت	56
ټانک ولایت	41
باجوړ ولایت	38
ډېره اسماعیل خان ولایت	27
پېښور ولایت	22
بنو ولایت	19
خیبر ولایت	15
لکي مروت ولایت	12
مومندو ولایت	05
اورکزو ولایت	05
کرم ولایت	04
شانګله ولایت	04
کرک ولایت	04
کوهاټ ولایت	03
کوېټې ولایت	03
پشین ولایت	03
مردان ولایت	02
جنوبي پنجاب ولایت	01
دیامر ګلګت ولایت	01
ژوب ولایت	01
قلات او سبي ولایت	01

د دښمن ځاني تلفات



ټول وژل شوي او ټپیان	وژل شوي	ټپیـــان	نیول شوي
963	564	399	18

زیانمني شوې ادارې



پـــوځ	ایف سي	پولیــس	استخبارات، امن کمیټو غړي
566	247	142	26

د عملیاتو ډولونه



درازکوف او لېزري بریدونه	101
چریکي بریدونه	34
کمیني بریدونه	28
لاسي بمونه او چاودني	21
تعرضي بریدونه	81
هدفي بریدونه	32
ځوابي بریدونه	20
توغندیز بریدونه	34
استشهادي بریدونه	01


له دښمن څخه ترلاسه شوي وسایل



بېلابېل ټوپکونه	10
موټر	01
امنیتي کمرې	04
کواډ کاپټر ډرونونه	02

او همداراز پوځي کلاوو ته انتقالېدونکي بېلابېل تجهیزات، نظامي وسایل، خوراکي توکی، د ثقیلې بکسه، زرګونه مرمۍ، لسګونه شاجورونه، چاودېدونکي توکي، نقدي پیسې او نور نظامي وسایل.

تخـــریب



د امنیتي کامرې	75
بېلابېل پوځي موټرونه	42
کواډ کاپټر ډرونونه	05
د پولیسو/پوځ ودانۍ	18
د برېښنا، اوبو رسونې او مخابراتي شبکې	12

د جنورۍ او فبرورۍ په میاشت کې د ترسره شویو عملیاتو تفصیلي راپور!

۱/ جنوري/ ۲۰۲٦م

د بنو ولایت د بنو ښار ولسوالۍ په مربوطاتو کې مجاهدینو پر پوځي چاونۍ د تحریک طالبان پاکستان د انجینرانو لخوا جوړ کړای شوی بالستیک توغندی (الفاروق AF-70) چې د ۷۰ کیلو گرامه چاودېدونکو توکو د وړلو وړتیا له ځانه سره لري، وتوغاوه. توغندی د کمپ په منځ کې ولگېد، چې په پایله کې يې یوشمېر اجیر پوځي عسکر او ایس‌ایس‌جي کمانډویان هلاک او ټپیان شول، همداراز د چاونۍ ودانۍ هم زیانمنه شوه.

د بنو ولایت د بنو ښار ولسوالۍ د لېوه پُل پر پوسته تعرضي برید کې د یوشمېر عسکرو د هلاکت او ټپي کېدو کلک احتمال شتون لري.

د جنوبي وزیرستان ولایت د شکتوی ولسوالۍ د ډي‌چوک په سیمه کې مجاهدینو تېره او وړمه ورځ پر ناپاک شاهي هندي پوځ دوه پرله‌پسې غبرگ بریدونه ترسره کړل، چې دښمن ته د ځاني او مالي زیان اوښتو قوي احتمال پکې شتون لري.

د جنوبي وزیرستان ولایت د شکتوی ولسوالۍ په پیاژه سیمه کې د درازکوف په برید کې یوه څارونکې امنیتي کامره په نښه او تخریب شوه.

د شمالي وزیرستان ولایت د میرانشاه ولسوالۍ په مربوطاتو کې پر غونډۍ‌تېره نومې پوسته د درازکوف په برید کې یو تن اجیر پوځي عسکر هلاک او یوه څارونکې امنیتي کامره تخریب شوه.

د پېښور ولایت د ایف آر پېښور ولسوالۍ په مربوطاتو کې مجاهدینو د تحریک د استخباراتي اداري "TIA" د معلوماتو پراساس د ایف سي عسکر ریحان ولد حبیب الرحمن ونیو، چې وروسته د سیمې د مشرانو په غوښتنه په دې شرط خوشې کړل شو چې په راتلونکې کې به په اجیرو امنیتي ادارو او د مجاهدینو خلاف فعالیتونو کې ونډه نه اخلي.

د پېښور ولایت د شېرکېرې ولسوالۍ د حسن خېلو اړوند د تړونۍ خولې سیمه کې د نوې پوستې جوړونکي پوځي عسکر د درازکوف په وسیله د

برید ښکار شول، چې پکې یو تن اجیر د ایف سي عسکر هلاک او دوه نور ژوبل شول.

د خیبر ولایت د باړې ولسوالۍ د اکاخېلو سیمې په عالم کلي کې پر مجاهدینو د کمین وهلو په هدف را روان د ایېس‌اوجي (ایف سي) عسکر مجاهدینو محاصره او تر برید لاندې راوستل. یادې جګړې اته ساعته دوام وکړ چې پکې ۸ تنه عسکر هلاک او ۷ نور ژوبل شول. تېښي عسکرو له ولس د سپر په توګه ګټه واخیسته او په تېښته بریالي شول، د هلاک شویو عسکرو جسدونه او پاتې نور عسکر تراوسه د مجاهدینو تر کلکې محاصرې لاندې دي. همداراز مجاهدینو له اجیر دښمن څخه دوه میله کلاشنکوف او اته شاجورونه هم ترلاسه کړل. الحمدلله.

۲/ جنوري/ ۲۰۲٦م

د خیبر ولایت د باړې ولسوالۍ اکاخېل میریخېل او اکاخېل منځې سیمو کې د درازکوف په دوو جلا بریدونو کې دوه اجیر عسکر ووژل شول.

د خیبر ولایت د باړې ولسوالۍ د تیراه شلوبر سیمه کې پر پړک بنګله پوسته د نارنجکو په برید کې د ځاني تلفاتو احتمال شتون لري.

د جنوبي وزیرستان ولایت د سروېکۍ ولسوالۍ په مربوطاتو کې پر سوریخېل پوسته د لېزري ټوپک په برید کې د ناپاک پوځ یو عسکر هلاک او یوه امنیتي کامره تخریب شوه.

۳/ جنوري / ۲۰۲٦م

د جنوبي وزیرستان ولایت د اعظم ورسک ولسوالۍ پلي چوک سیمه کې د درازکوف په برید کې یوه امنیتي کامره تخریب شوه.

د جنوبي وزیرستان ولایت د وانه ولسوالۍ په مربوطاتو کې پر مرکزي کمپ مجاهدینو راکټي برید ترسره کړ چې د مرګژوبلې راپورونه ترې ترلاسه شوي دي.

د مجاهدینو د پرلپسې او تندریزو بریدونو له امله شاهي هندي پوځ ثمرباغ او شوکۍ نرۍ سیمو کې پوستې پرېښودې. الحمدلله

